Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft

# البرق السبحي

في

# درس ایساغوجي

تالیف

شیخ القرآن والحدیث استاذ العلماء
وماهر الفنون حضرت مولانا
**محمد وهاب** (توحیدی)

الناشر
**الجامعه الشرعیة** شیخ آباد رجڑ چارسده
**جامعه محمدیه** صالح خانه گنرخیل

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Maktaba Tul Ishaat .com

تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

| | | |
|---|---|---|
| تفاسیر | خطبات | منطق |
| احادیث | سیرت | معانی |
| فقہ | تاریخ | تصوف |
| سوانح حیات | صرف | تقابل ادیان |
| درس نظامی | نحو | تجوید |
| لغت | فلسفہ | نعت |
| فتاوی | حکمت | تراجم |
| اصلاحی | بلاغت | تبلیغ ودعوت |
| تمام فنون | | |

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


# البرق السجی

# فی

# درس ایساغوجی

## مؤلف :

شیخ القرآن والحدیث حضرت مولانا
محمد وہاب ''توحیدی''

## ناشر

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



ټول حقوق په حق د مؤلف کښې محفوظ دي :

د کتاب نوم : ـــــــــ : البرق السجی فی درس ایساغوجی

مؤلف : ـــــــــ : شیخ القرآن والحدیث
حضرت مولانا محمد وهاب توحیدی.

کمپوز : ـــــــــ : ابوعبدالرحمان تُراب
(0314-9027515)

ناشر : ـــــــــ :

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



بسم الله الرحمٰن الرحیم○

# ﴿ البرق السجی فی درس ایساغوجی ﴾

پس ازده کړه دا خبره چه په بسم الله کښ لابدی ده ده پنځو خبرونه:

**اوله** : دا ده چه بسم الله په اول کښ ولی راوړی ده سره ده دینه چه مقصود ده ماتن بیان د مسائلو د علم منطق دی نو شروع په بسم الله باندی شروع بما لا یعنی ده یعنی غیر مقصود باندی.

**ثانی خبره داده** : چه بسم الله خاص ده دی دریو اسماؤ نه ولی جوړه کړی ده سره ده دینه چه اسماء ده الله تعالیٰ په اختلاف ده مفسرین سره ډیر دی.

**بعض وائی** : چه دری زره (۳۰۰۰) دی لکه دا ده امام بیضاوی قول دے.

**بعض وائی** : چه پنځه زره (۵۰۰۰) دی لکه دا ده ابن کثیر رائی ده.

**دریمه خبره** : داده چه اسم په اول کښ ولی زیاتی کړے دے.

**او څلورمه خبره** : داده چه تقدیم ده لفظ ده الله تعالیٰ په رحمٰن ولی اوکړه ځکه چه لفظ ده الله تعالیٰ په منزله ده مرکب دے ځکه چه الله تعالیٰ ذات دے په مستجمع دے جمیع صفات ده کمال لره او رحمٰن ذات دے چه ده ده د پاره یوازی رحمانیت ثابت دے.

او رحمان ولی مقدم کړه په رحیم باندی سره ده دی نه چه په

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



رحمان کښې مبالغه زیاته ده د رحیم نه نو دے په منزله د ده مرکب شه او په رحیم کښې مبالغه کمه ده نو دے په منزله ده مفرد شه او مفرد مقدم وی په مرکب باندې.

**او پنځمه خبره**: داده چه کلمه ده بآء ولې مکسوره کړه ځکه چه اصل په هغه کلمات کښې چه په حرف واحد سره وی حرکت دے او اصل په حرکت کښې فتحه ده ځکه چه فتحه خفیفه ده ده نورو حرکاتو نه.

**جواب ده اول نه دادے**: چه بسم الله ځکه راوړی ده چه په اول کښې موافقت راشی ده کتاب الله سره او ده کُتُبُ ده سلفو سره او ده حدیث مشهوره سره راشی چه: "کل امرٍ ذی بالٍ لم یبدء بسم الله فهو اقطع واجزم"

**اعتراض**: په بسم الله باندې بلـه بسم الله مقدم ذکر کولو نه ضرورت رانغله سره ده دینه چه بسم الله هم امو ذی بال دے ځکه چه مراد په امر ذی بال سره ماسوا ده بسم الله نه دے ځکه چه په حدیث کښې دوه ټکړی دی یو لفظ عام دے چه کل امرٍ دی بالٍ الخ دے. او بل لفظ خاص دے چه بسم الله دے او دا قانون دے چه خاص ذکر کړے شی پس ده عام نه نو ایراده کولے شی په عام سره ما سوا ده خاص نه د پاره ده دی چه استدراك ده خاص لازم نشی.

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



**او جواب ده ثانی دادیے** : چه په وقت ده نزول ده بسم الله کښی خلق په دری قسمه وؤ چا به لفظ د الله یاده ؤو چا به رحمان یاده ؤ فقط او چا به رحیم یاده ؤ فقط او دوی به وی که دری واړه یاد کړو نو شریك به لازم شی نو الله تعالیٰ موافقت اُکړه ده دی دری واړو سره او پدی باندی رد اوکړه چه شرك نه لازمیګی ځکه چه ده الله تعالیٰ د پاره ډیر نمونه دی په هر یو سره چه بلی یاده وی نو ده الله تعالیٰ نمونه دی او ده تعدد ده اسماؤ نه تعدد ده ده ذات نه لازمیګی.

**او ده ثالث نه جواب دا دیے** : چه اسم ځکه زیاتی کړه چه فرق راشی په مابین ده یمین یعنی ده بأقسمیه کښی او تیمین یعنی ده باده برکت کښی.

**او څلورم نه جواب دادیے** : چه لفظ ده الله تعالیٰ جامد دے په نزد د سبویهٔ باند او رحمن او رحیم صیغی ده صفت مشبهه دی او په جامد کښی لحاظ ده ذات وی فقط او په صیغو ده صفت مشبهه کښی لحاظ ده ذات او ده وصف دواړو وی نو لفظ ده الله تعالیٰ په منزله ده مفرد شو او رحمان او رحیم په منزله ده مرکب شو او مفرد مقدم وی په مرکب باندی بیا رحمٰن ځکه مقدم کړه په رحیم باندی ځکه چه رحمٰن صفت خاصه ده الله تعالیٰ دے او رحیم

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


مشترك دے پمابين ده صفت ده الله او ده رسول ﷺ كښې ځكه چه رسول ﷺ ته هم رؤف رحيم ويلے شويدی په قرآن كښې او كته وائی چه صفت ده رسول علیه السلام به څنګه شريك شی ده صفت ده الله تعالیٰ سره نو جواب دادے چه رحيم په بنده كښې واخلی نو اول ئې زړه نرم شی بيا رحم اوكړی په غريب باندی او كه رحم په نسبت سره الله تعالیٰ ته واخلی نو ده هغه زړه نشته خو فی الحال رحم كوی په غريب باندی.

**او جواب ده پنځم نه دادے** : چه كلمه ده بأ ځكه مكسور كړه چه مدخول ده دی مكسور دے د پاره ده دی خبری چه دلالت اوكړی په كسری ده مدخول باندی ده اول وقت نه.

**دويم جواب دادے** : چه بأ حرف دے او حرف مبنی وی او اصل په بناء كښې سكون دے نو التقأ ده ساكنين راغله په مابين ده باء او ده سين كښې او التقائی ده ساكنين ده دفعه د پاره دوه طريقی دی په حذف سره يا په حركت سره دلته كښې خو حذف ځكه ندے روا چه الـه ده امداد فوت كيګی نو دفعه اوكړه په وركولو ده حركت سره چه كسره ده او كسره ډيره مناسب ده ده سكون سره ده فتحی نه ځكه چه سكون عدم ده حركت ته وائی او كسره هم قليل استعمال ده په منزله ده عدم ده ځكه چه په غير منصرف كښې

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


کسره نه جاري کيګي.

**جواب ثالث :** مجرورات په دنيا کښ دوه دي يو مجرور په حرف جر سره او دويم مجرور په اضافت سره. او منصوبات دولس (۱۲) دي او مرفوعات اته (۸) دي .نو مجرورات قليل دي نو کالعدم شو.

**او بله وجه داده :** چه سکون په منزله ده مړي دے ځکه چه سکون عدم ده حرکت ته وائي او په مړي کښ هم حرکت نوي او مړے لاندي ده زمکي نه اګدي او کسره هم ليکے شي لاندي دَ کرخي نه يعني حرف نه.

**قال الشيخ الخ :** شيخ په لغت کښ بوډا ته وائي او په اصطلاح کښ په ډيرو معانيو سره رازي په موافق ده اصطلاح ده اهل علمُ سره پس په نيزده صرفيانو باندي او نحويانو : او منطقيانو هغه دے چه قول ده هغه حجت وي. (۲) من له مهارت في فن من الفنون.
او نيزده فقهاؤ هغه دے چه ساقط وي ترينه فرض او فديئه پري لازم وي. او په نيز ده اصوليانو هغه دے چه استنباط ده مسائلو کوي ده دلائل اربعونه چه کتاب الله او سنت او اجماع او قياس دي. او په نيز ده محدثين هغه دے چه دري زره احاديث ورته مسند ياد وي او په نيز صوفيو کرامو هغه دے يحي السنت ويميت البدعة. او انسان لره وه (۷) يا اته (۸) حالات دي : چه

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



عارضیگی انسان ته وه (۷) یا اته (۸) مراتب وی.

**اول**: حالت ده جنینیت ده مور په خیته کښی هغه نه پس

**دویم**: حالت ده صبابت دے دوه نیم کاله پوری. او د هغه نه پس

**دریم** حالت ده طفولیت دے تر ووه (۷) کلونو پوری او ده هغی نه پس

**څلورم** مراهقیت دے دے تر پنځلسو کالو پوری او هغی نه پس

**پنځم شبابت** دے تر څلویختو کلونو پوری او هغی نه پس

**شپږم** شیخوخت دے تر شپیتو کلونو پوری او ده هغی نه پس

**ووم کهولیت** دے تر اتیا (۸۰) کلونو پوری او د هغی نه پس

**اتم حالت ده ارم دے** له اتیا کلونو نه روسته تر مرګه پوری:

**قوله الامام**: امام په لغت کښی مشر او قائد او پشوا ته وائی او په اصطلاح کښی هغه انسان ته وائی چه دا هغه د اقوال او افعال خلق اقتداء او تابعداری کوی او د امام استعمال هم د شیخ پشان دی.

**قوله العلامة**: او علامة لغت کښی ډیر علم لرونکی ته وائی او په اصطلاح کښی ماهر د علوم عقلیه او نقلیه ته وائی. صفت ده ده شیخ دے او اعتراض مطابقت رانغے په مابین ده صفت او ده موصوف کښی، جواب تآ په علامة کښی په علامة کښی د پاره ده مبالغی ده. سوال: نو بنا پدی باندی الله ته علامة وئیل ډِ رواشی ځکه چه الله تعالیٰ الیق بالمبالغه دے: جواب چه تآ د پاره ده

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



مبالغي ده لكن شبه ده تانيث پكښې شته دے او الله تعالىٰ څنګه چه تانيث نه پاك دے.نو دارنګه ده شبه ده تانيث منزه دے نو الله تعالىٰ څرنګه چه ده تانيث پاك دے دارنګه ده تذكير نه پاك دے نو : سوال : الله تعالىٰ عالم او علاّم رازق او خالق دى هم او نه ويلے شي او اطلاق ده دى صفات دى په الله پاك باندى او نه شي . جواب :(١) هر كله چه مونږه محتاج شو په اجراء ده صفاتو كښې په الله تعالىٰ مجبوراً مونږ د لفظ د مذكر اطلاق په الله تعالىٰ كوؤ مونږ سوى دا دينه بل لفظ نشته. ١٢

**افضل علماء المتأخرين** : دا دريم صفت ده شيخ دے او علماً جمعه ده عالم ده او عالم وتلے دے ده علم نهٔ او علم په لغت كښې دانستند ته وائى . او په اصطلاح كښې علم پدوه قسمه دے . يو علم حصولي دے . او بل علم حضوري دے . علم حصولي ديته وائي چه په واسطي ده مفهوم ( صورة ) سره وى . او علم حضورى ديته وائى چه بے ده واسطى ده مفهوم ( صورة ) نه وى . او علم حضوري درى (٣) علاقى غواړى علاقه ده (١) عينيت (٢) او نعتيت (٣) او معلوليت . بيا علم حصولي په دوه قسمه دے . يو قديم او بل حادث دے مثال ده علم حصولي قديم لكه علم ده ملائكو شو په اشياؤ غائبو باندى ده هغو نه حصولي دے څكه

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


چه په واسطی ده مفهوم (صورة) سره دی او قدیم دی ځکه چه ملائك د هغوی په نیز قدیم دی . او مثال ده علم حصولی حادث لکه علم زمونږ په اشیا غائبو باندی ځمونږ نه حصولی دے ځکه چه په واسطی ده مفهوم سره دے . او حادث دے ځکه چه مونږ حادث یو او مثال ده علم حضوری قدیم لکه علم ده الله تعالیٰ شو په خپل ذات او په خپلو صفاتو او په خپل معلول باندی علم حضوری ځکه چه بے ده واسطی صورة نه دے او قدیم دے ځکه چه الله تعالیٰ قدیم دے . او مثال ده علم حضوری حادث لکه علم ځمونږ شو په خپل ذات او په خپلو صفاتو باندی او په خپل معلول باندی علم حضوری دے ځکه چه بے ده واسطی ده مفهوم (صورة) نه دے او حادث دے ځکه چه مونږ حادث یؤ او بیا علم حصولی حادث په دوه قسمه دے . یو تصوری دے او بل تصدیقی دے تصور حصول ده صورة ده شے په عقل کښ او دا تصور لس (۱۰) قسمه دے . علم په تراکیبو خمسو باندی پغیر ده اسنادنه او شپږم تخیل دے او وم وهم دے او اتم تکذیب دے یعنی انکار د نسبت نه او نهم تصور دَ جمله انشائیه او لسم شك دے چه علم دے په مساوی الطرفین باندی . او تصدیق په څلور قسمه دے . یقین جهل مرکب ظن، او تقلید ۱۲ .


Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


**المتأخرین** : دا صفت ده علماء دے او علماء پدوه قسمه ده یو متقدمین دی او بل متأخرین دی او علماء متقدمین په نیز ده منطقیانو ارسطو نه تر فارابی پوری دی. او علماء متأخرین په نیز ده دوی فارابی نه تر ابن سینا پوری.

**قوله قدوة الحکماء الراسخین الخ** : دا هم صفت ده شیخ دے نو معنی دا شو ویل دی شیخ چه پیشوا دے هسی شیخ چه لوی علامه دے چه غوره ده علماء دے هسی علماء چه متأخرین دی هسی شیخ چه مشر او پشوا او قائد د حکماؤ مظبوط دے. حکماء جمع ده حکیم ده او حکیم وتلے دے له حکمت نه او حکمت علم دے په احوال ده موجودات خارجیو باندی په هغه طور سره چه ثابت وی دغه احوال موجودات لره په دغه طور سره په نفس الامر کښی دی په قدر ده طاقت ده وس ده بشر سره.

**حکیم** :

(۱) من اتقن العلم و العمل بقدر طاقت البشریه.

(۲) الذی یعظم الله باالقلب لا باللفظ. ۱۲ راسخ لغت کښی مضبوط ته وائی او په اصطلاح کښی هغه عالم ته وائی چه معلوماتو کښی تضاد نوی.

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



**اثیر الدین** : لقب دی او مفغل بن عمر ئے نوم دی : ناقل د دین دے او دین په لغت کښ جزا ته وائی او په اصطلاح کښ قانون الهی دے چه چلولے شوے وی خیر ته .

**الابهری** : ابهری منسوب بسوی ابهر ابهر قریه ده ده قریۀ ده خوازن نه یا بانډه ده ده بانډو ده استر اباد نه :

**طیب الله ثراه** : خوشبو ناك دی کړی الله تعالیٰ قبر ده ده .

**وجعل الجنة**: او اودیګرزوی الله تعالیٰ جنت ځائی ده اوسیدو ده دوی . جعل په لغت کښ خروج ده لیس نه الیس ( خروج الشئ من العدم الی الوجود ) ته او په اصطلاح کښ جعل په دوه قسمه دے یو جعل بسیط دے په معنی د اوجد سره او بل جعل مؤلف دے په معنیٰ د صیّر سره یعنی مرکب دے . او جعل بسیط یو مفعول غواړی او جعل مؤلف دوه مفعوله غواړی مثالون ده دواړو موجود دی په قرآن مثال ده اول جعل الظلمات والنور او مثال ده ثانی جعل الشمس ضیاءً او دلته جعل مولف دے . **قوله نحمد الله** او دا تر اخریه پوری مقوله ده قال ده او معنی دا شوه چه اویل دی شیخ دا خبره چه نحمدالله الخ مونږ ثنأ ده الله تعالیٰ وائیو په توفیق ده الله تعالیٰ سره : سوال:دفع او جمله فعلیه ځکه خاص کړه چه دا موافق وه ده غرض ده متکلم سره ځکه چه غرض ده

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


متکلم اخبار یا استخبار ده نفس خپل نه دے او دا نه حاصلیگی مگر په جمله فعلیه کښ نه په جمله اسمیه کښ:

سوال ، جواب : او بیا په فعل کښ فعل مضارع ځکه خاص کړه چه په فعل مضارع کښ تجدد او استمرار وی او بیا په فعل مضارع کښ صیغه ده متکلم مع الغیر ځکه خاص کړه چه په بنده کښ دری سوه (۳۰۰) رګونه دی او هر یو رګ ځما داسی دے لکه مستقل سړے چه وی ځکه صیغه ده متکلم مع الغیر ذکر کړه او **نحمده خارج شویدے ده حمد نه** او حمد په لغت ستودن یا ستا یش ته وائی او په اصطلاح کښ ثنا ده او نداء ده په لسان سره برابره خبره ده چه په مقابله ده نعمت کښ وی او که نه وی او ذکر ده نداء روسته ده ثنا نه پدیکښ خبر دارے دے دی خبری ته چه ځائے د اداکولو د حمد خاص دے چه لسان دے ځکه چه ثنا ذکر دے قلبی ته هم ویلے شی او مراد ده لسان نه مظهر دے. نو ثنا ده الله تعالیٰ ته هم شامل شو لکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم الخ ویلی دی : لااحصی ثناءً علیك انت کما اثنیت علی نفسك ولی که ظاهری لسان خدائی لره ثابت شی نو جسم به الله تعالیٰ لره ثابت شی او الله تعالیٰ پاك دے ده جسم نه :

او بل جواب دادے : چه دا لفظ ده لسان متشابهاتو نه دے لکه

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



ځرنګه وجه او لاس الله تعالیٰ لره ده مشابهات نه دے. لکه کلّ شئ هالك الاوجه : یا تبارك الله بیده الملك یا نور متشابهات شو او حاجت نشته دے پدی تعریف ده حمد کښ ذکر کولو ده علی قصدالتعظیم ته چه استهزاء ترینه اوزی ځکه چه استهزأ ثنا حقیقینده او دلته مقصود تعریف ده ثنائی حقیقی دے او حاجت نشته دے پدی تعریف ده حمد کښ قید ده اختیاری ته چه اوزی ترینه مدحه ځکه چه نشته فرق په مابین ده حمد او ده مدحه کښ نه په اعتبار ده عقل سره او نه په اعتبار ده نقل سره ځکه چه هر ذی عقل رجوع وکی عقل خپل ته معلوموی ده عقل خپل نه دا خبره چه انسان محمود او ممدوح نه ګرزی بغیر ده فعل خپل نه او هر فعل نوی مګر په اختیار د محمود کښ وی او په اعتبار ده نقل سره اختیاریت دواړو کښ شرط ندے. هر چه دے په مدحه کښ لکه مدحتُ اللؤلؤ علی صفائها ځکه نشته دے ملغلری لره اختیاریت په خپل صفائی کښ او هر چه دے په حمد کښ لکه دا قول ده الله تعالیٰ عسیٰ ان یبعثك ربك مقاماً محمود الخ نشته دے مقام لره اختیاریت په خپل محمودیت کښ.

او که ته وائی چه دا عبارت په حذف ده مضاف سره دے چه صاحب ده مقام محمود دے او دا عدول ده ظاهر نه ځکه چه

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



محمود صفت ده مقام صحیح دے.
او ذکر نکړه شکر ځکه چه په قرآن کښې الله تعالیٰ ده بسم الله نه روستــه حـمـد ذکر کړے دے. او شکر دیته وائی چه شکر یو فعل دے چه خبردارے ورکوی ده تعظیم ده انعام کونکی منعم په سبب ده انعام برابره خبره چه په لسان سره وی او که په جنان سره وی اوکه په نورو ارکانو سره وی. او نسبت په مابین ده حمد او ده شکر کښې عموم خصوص من وجه دی او عموم خصوص من وجه دری مادی غواړی. یو ماده اجتماعی او دوه مادی افتراقی :
ماده اجتماعی ثناء او نداء ده په مقابله ده نعمت کښې او ماده افتراقی ده جانب ده شکر نه ثناء ده او ندا ده په مقابله ده نعمت کښې په زړه سره او ماده افتراقی ده جانب ده حمد نه ثناء او نداء ده بغیر ده مقابلی ده نعمت نه. پس اذده کړه دا خبره چه په هر مصدر ده فعل متعدی کښې لابدی وی ده احتمالات سبعونه (۱) مصدر معلوم (۲) مصدر مجهول (۳) او مصدر مبنی للفاعل (۴) او مصدر مبنی للمفعول (۵) او حاصل باالمصدر معلوم (٦) او حاصل باالمصدر مجهول (۷) او قدر مشترکه.
**مصدر** : معلوم دیته وائی چه نسبت ده مصدر فاعل ته باالقوة اوشی او ده دی معنی داده چه په زید کښې مثلاً قوة ده حمد وی

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


لکن ویلی نوی **او مصدر** مجهوله دیته وائی چه نسبت ده مصدر مفعول ته اوشی باالقوة او ده دی معنیٰ داده چه په زید کښې مثلاً قوة ده دی وی چه دے دی حمد اووائی ده عمر لیکن ده لا تلفظ نوی کړے. **او مصدر** مبنی للفاعل دیته وائی چه نسبت ده مصدر فاعل ته اوشی باالفعل او ده دی معنیٰ داده چه دا حمد ده فاعل نه باالفعل صادر شی تلفظ پری اوکی. **او مصدر** مبنی للمفعول دیته وائی چه نسبت اوشی ده مصدر مفعول ته باالفعل او ده دی معنیٰ داده چه زید حمد وائی ده عمر باالفعل او دیته حاصل باالمصدر معلومه دیته وائی چه نسبت ده مصدر فاعل ته باالفعل اوشی او ده دینه یو حالت حاصل شی چه هغه خوشحالی ده فاعل ده او غمگین کیدل ده دشمن دی.

**او حاصل** باالمصد مجهوله دیته وائی چه نسبت ده مصدر مفعول ته اوشی باالفعل او ده دینه یو حالت حاصل شی چه هغه خوشحالی ده روسته ده او غمگین کیدل ده دوشمن دی او ده دی معنیٰ داده چه ده زید نه حمد ده عمر صادر شی په تلفظ سره او مصدر ده قدر مشترکه دیته وائی چه تعلق ده ټولو سره برابر وی او دلته مراد ده مصدر نه مصدر مبنی للفاعل دے ځکه چه ثواب پدے سره حاصلیګی.

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



**علی توفیقه** : په توفیق ده الله تعالیٰ سره او توفیق په لغت کښ دست دادن کسی را در کاری را گویند او په اصطلاح کښ دوه مذهبین دی یو مذهب دَ اهل سنت والجماعت دے چه توفیق جعل ده اسباب ده عبد دے موافق ده مطلوب خیر سره یا جعلِ ده تدبیر دے موافق ده تقدیر سره او مقابل ده دی خزلان دے چه جعل ده اسباب ده عبد دے موافق ده مطلوب شره سره لکه مسلیمة الکذاب وغیره شو. او بل مذهب ده معتزلو دے چه هغه قدرت مجتمعه جمیع شرائط ده تاثیر لره او بیا اهل سنت والجماعت وائی چه توفیق مقدم دے په فعل باندی ولی که معی شی او داسی نشی نو لازم به شی تکلیف بما لا یطاق تکلیف په هغه شے سره چه ده دی طاقت نه رسی او دا رواندے ځکه چه مونږ اودس یو ځائی نشی کیدلے او معتزلو وائی چه توفیق معی دَ فعل سره دی ولی که دارنګه نشی نو لازم بشی تخلف ده علت تام ده معلول نه او دا روا ندے. قدرت مجتمعه جمیع شرائطو ده تاثیر لره دا علت تام دے او تاثیر فعل دے یعنی معلول دے.

**قوله ونسأل الله هدایته طریقاً الخ** او سوال کوؤ مونږ ده الله تعالیٰ نه ده پوهی ده لاری که مطالبه وه ده جانب ده ده ادنیٰ نه اعلیٰ و ته نو هغه ته دعاء وائی او که مطالبه وه له جانب ده اعلیٰ نه ادنیٰ ته نو

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



هغه ته امر وائی او که مطالبه وه له جانب ده مساوی نه مساوی ته نو هغه ته التماس وائی او دلته مطالبه ده ادنیٰ ده اعلیٰ ته په معنیٰ ده دعأ او سوال سره ده .

**هدایت** په لغت کښ راه نمودن ته وائی او په معنیٰ اصطلاحی سره په هدایت کښ مذهبین دی . یو مذهب ده اهل سنت والجماعت دے چه په معنیٰ ده الدلالة الی ما یوصل الی المطلوب حاصل ئے اراءة الطریق رازی.

او بل مذهب ده معتزلو دے الدلالة الموصلة الی المطلوب حاصل ئے ایصال الی المطلوب رازی . د معتزلو څلور دلائل دی .

**اول** که هدایت په معنیٰ ده ارأة الطریق شی نو صحیح به نشی دا قول ده الله تعالیٰ ( انك لا تهدی من احببت الخ ) ځکه چه رسول الله صلی الله علیه وسلم خودنی ده لاری د پاره لیګلے شویدے .

**ثانی** هدایت مقابل ده ضلالت دے او په ضلالت کښ عدم اصول معتبر دے نو په هدایت کښ وصول معتبر شو .

**ثالث** په هدایت سره مدحه کولیشی او مدحه به هله صحیح شی چه د سړی اصول راغلے وی مطلوب ته لکه زید مهدیٔ شو .

**رابع** اهتدا تابع ده هدایت ده او په اهتداء کښ اصول باالفعل معتبر دے که هدایت کښ معتبر نشی نو مخالفت به راشی ده

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



تابع لـه متبوع نه او مطاوعت اصول ده اثر دے په نیز ده تعلق ده فعل متعدی ده مفعول سره . چه د ماقبل فاعل د فعل اثر مفعول قبول کړے دے مثال کسرته فانکسر .۱۲

او یو اعتراض واردیګی لـه جانب ده اهـل سنت والجماعت نه واردیږی پـه معتزلو باندی کچرته معنیٰ اصطلاحی ده هدایت ایصال الی المطلوب شی نو څـه دے جواب لدی قول ده الله تعالیٰ نه ( واما ثمود فهدینا هم فاستحبوا العمیٰ علی الهدیٰ ) اوکه دلته هدایت په معنیٰ ده ایصال الی المطلوب وے نو څنګه دوی عمی اختیاره وله په هدایت باندی . حال دادی تاریخ کښی نشته چه دوی ایمان قبول کړی .

نو جواب دا کړے دے ده جانب ده معتزلو نه (فاوصلنا هم الی اسباب الهدایة ) دلته هدایت ایصال الی المطلوب ندے بلکه په معنیٰ ده ده ارادة الطریق سره دی چه دا معنی مجازی د هدایت ده .

ولالهام الحق او الهام پـه لـغت کـښ القاء ته وائی او په اصطلاح کښ القاء ده خیر ده پـه قلب ده مؤمن کښ په طریقه دَ فیض او بخشش سره او نه په کسب سره او حق عبارت دے ده مطابقت ده محکی عنـه ده حکایت سره . او باطل عبارة دے ده عدم مطابقت ده محکی عنه ده حکم یعنی ده حکایت سره او صدق

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



عبارت دے ده مطابقت ده حکم یعنی حکایت ده محکی عنه سره او کذب عبارت دے ده عدم مطابقت ده حکم یعنی حکایت ده محکی عنه یعنی ده نفس الامر سره.

بتحقیقة او تحقیق دیته وائی چه اثبات ده مدعیٰ وی په دلیل سره او تدقیق دیته وائی چه اثبات ده دلیل وی په دلیل سره قول ونصلی او نصلی وتلے دے له صلوٰة نه او صلوٰة په لغت کښ دعاء ته وائی په نیز ده جمهورو باندی او په نیز ده صاحب دکشاف باندی تحرك حرکت د کوناتو ته وائی او په اصطلاح ده شرع کښی عبارت دے له ارکانو مخصوصونه په اوقاتو مخصوصو کښ. او په اصطلاح ده عامو کښ صلوٰة په څلورو معانیو سره رازی که نسبت اوشی عبد ته نو مراد ترینه دُعاء ده لکه پدی قول ده خدائی تعالیٰ کښ اُجیب دعوة الداع اذا دعانی الخ او چه نسبت وحوش او طیو روته اوشی نو مراد ترینه تسبیح او تحصیل وی لکه دا قول ده الله تعالیٰ شو ومامن شیٔ الایسبح له الخ او په شیٔ کښ وحوش او طیور هم راغلی او چه نسبت اوشی ملائکو ته نو مراد استغفار دے لکه دا قول ده الله تعالیٰ ویستغفرون ربهم للذین الخ دا په هغه ځائی کښ دے چه بنده یو مریض تپوس له لاړ شی نو اویازره (۷۰۰۰۰) ملائك ده دغه تپوس کونکی د پاره

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


استغفار غواړی او چه نسبت اوشی الله تعالیٰ ته نو مراد ترینه نزول ده رحمت دے او دا قول چه ان الله وملائکته یصلون علی النبی پدی کښ غوره کړے شویدے عموم مجاز او عموم مجاز دیته وائی چه لفظ لره معنین وی او یو معنیٰ حقیقی وی او بله معنیٰ مجازی وی او ایراده کړے شی معنی ثالث چه معنی حقیقی او معنی مجازی اګرزی له افراد ده معنیٰ ثالثِ نه چه هغه رسول ده نفعی ده او رَسَوَلُ ده نفعی په دعاء کښ هم دغه معنیٰ ده او په استغفار کښ دغه معنیٰ ده او په افاضهٔ ده رحمت کښ هم ده . او علاقه په مابین ده دعا او ده معنیٰ شرعی ده صلوٰة کښ علاقه ده مجاز مرسل ده چه هغه حالتِ او محلیت دے ځکه چه دعاء حال دے په ارکانو مخصوصو کښ لکه اهدنا اهدنا الصراط المستقیم تر اخیره پوری او اللهم ربّنا تر اخیر پوری او یا علاقه په مابین ده منقول او منقول عنه کښ علاقه ده مجاز مستعار ده او په مجاز مستعار کښ علاقه ده تشبیه ده او دلته علاقه ده تشبیه شته ځکه چه دُعا دَاعی مشابه کړی ده ده صلوٰة مصلی سره په عاجزی کښ او په نیز ده صاحب ده کشاف باندی په مابین ده معنیٰ لغوی او اصطلاحی کښ علاقه ده حالیت او محلیت ده ځکه چه صلوٰة اصطلاحی محل دے ده حرکت ده صلوین د پاره .

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


پس ایزده کړه دا خبره چه استعاره په څلور قسمه ده یو استعاره مصرحه ده او ثاني استعاره مکنیه ده او ثالث استعاره تخیلیه ده او رابع استعاره تر شیحیه ده مصرحه دیته وائي چه مشبه به (۱) او مشبه دواړه ذکر وي لکه زید اسد یا زید کاالاسد مشبه مشبه به (۲) ذکر د مشبه به او مراد مشبه (۳) چه مشبه ذکر وي او مشبه به متروك او مشبه هم مقصود وي .مشبه ذکر ویلکه مرګ مشبه ده اولیوه مشبه به دی پدی شعر کښې

**شعر**

اذا انشبــــت الـــمــــنية اظــفـــــارهـــــا

الــفيــــت كــــلّ تــــميــــمة لاتــــنــفــع

ده دی بیت ترجمه دا ده چه په کم وقت کښ ځخ کی مرګ نو کو نه لره نو ته به بیا مومی هر تعویز چه هغه په نفعه نه رسی نو منیه ذکر ده چه مشبه ده او مشبه به چه هغه لیوه دے نو دیته مکنیه وائي ځکه چه مکنیه ده مکن نه ده او مکن استتار ته وائي او پدی کښ اشرف الارکان پټ دی چه هغه مشبه به هغه لیؤه دے او پدیکښ بله استعاره تخیلیۀ ده چه هغه دیته وائي چه لازم ده مشبه به ثابت کی مشبه لره ځکه چه نو کو نه لازم دی ده لیوه سره او تا ثابت که منیه لره چه هغه مشبه ده چه هغه مرګ دے او پدی

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


کبنې څلورم استعاره ترشیحیه ده او استعاره ترشیحیهٔ دیته وائی چه مناسب ده لازم ده مشبه به ثابت کی مشبه لره لکه مناسب ده نوکونو سره نخول دی او هغه ثابت کړه مشبه لره چه پدی قول کبنې چه اذا نشبت دے.

او بیا مصرحه ده تصریح نه دے او تصریح اظهار ته وائی او پدی کبنې اشرف الارکان ظاهر دے چه هغه اسد دے چه مشبه به ده لکه رأیت اسداً یرمی شو او تخلیه ده خیال نه دے او تا په خیال کبنې لازم ده مشبه به سره ثابت کړه مشبه لره او ترشیحیه ده تر شیحیت نه دے او ترشیحیت تزین ته وائی او پدی سره چه مناسب ده لازم ده مشبه به سره نو خائسته دی کړه مشبه او لفظ کثیر المعنی په څلور قسمه دے. اول منقول، ثانی مرتجل ثالث مشترك رابع مؤول او منقول دیته وائی چه منقول او منقول عنه کبنې مناسبت وی لکه دعاء او ارکان مخصوصه شه او مرتجل دیته وائی چه منقول او منقول عنه کبنې مناسبت نوی لکه جعفر شه چه په څلورو معانیو سره راغلی دې. او مناسبت نشته لکه پدی قول کبنې جعفر په جعفر سورؤ او جعفر کبنې تله او جعفر ئی خوړ.

قوله علی محمد واله وعترته : اومونږ درود وائیو سوال محمد صلی الله علیه وسلم مرحوم دی په نهایت مرحومیت سره چه د چا

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


دعا ته محتاج ندی.

جواب کوو دارنګه وی نو رحمت ده الله تعالیٰ په یو حد باندی ودریدلے به وے او حال دادے چه ویل دی نبی علیه السلام او امر ئی کړے مونګته په درود سره او آل په څلور قسمه دے: اول حسبی، ثانی نسبی ثالث اهل بیت: رابع هر تقی نقی او آل په اصل کښے اَهُل وو یا په اصل کښے اَوَلُ په هر یو تقدیر سره آل جوړ شو نو معنیٰ دا شوه مونګه سوال کوو د الله تعالیٰ نه او د الهام غورزه ولو د حق سره د تحقیق د دحق نه او مونږه درود وایو په محمد علیه السلام باندے او په اولاد د هغه باندی.

قوله اما بعد : پس ایزده کړه دا خبره چه چه اما بعد په متن کښ راشی نو دفعه ده یو اعتراض وی اعتراض دادے چه دی ماتن ولی پدی فن کښ کتاب جوړه کړه او چه کلمه ده امّا په شرحه کښ واقع شی نو دفعه ده دوؤ اعتراضونو وی چه دا شرحه پدی فن کښ ولی اوکړه او بیا خاص پدی متن ولی اوکړه او دا متن چه ایساغوجی ده پدی فن کښ ځکه اُکړه چه پیجندل ده دی فن فرض دی ولی فرض دی ځکه چه دا فن موقوف علیه ده پیجندلو ده دلیل د پاره او معرفت ده دلیل موقوف علیه دے ده معرفت ده الله تعالیٰ د پاره او دلیل پیجندلے شی پدی فن سره ځکه چه

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


دلیل په دوه قسمه دے یو دلیل لمیّ دے او بل دلیل انی او دلیل لِمیّ دیته وائی چه لفظ کښې علت وی او په نفس الامر کښې هم علت وی لکه العالم حادث لانّه متغیرٌ و کُلّ متغیرٌ حادث نو فالعالم حادث او دلیل اِنّی دیته وائی چه په لفظ کښې علت وی او په نفس الامر کښې مدعیٰ وی لکه العالم متغیّرٌ لانّه حادث وکُلّ حادث متغیّر نو فالعالم متغیّر۔ او دلیل لِمّی ته لِمّی ځکه وائی چه لِم علت ته وائی او دے په نفس الامر کښې هم علت دے او په لفظ کښې هم علت دے. او دلیل اِنّی ته اِنّی ځکه وائی چه اِن ثبوت ته وائی او دے هم په لفظ کښې مدعه ثابت وی.او دا دوه قسم دلیلین معرفت پدی فن منطق سره رازی که ته وائی کچرته معرفت ده دی فن فرض وه نو دا مقوله ده فقهاؤ به نوی وارده شوی په ذم ده دی فن باندی هغه داده چه ویجوز الاستنجاء باوراق المنطق اویله دا مقوله چه المنطق بیت الکفر دهلیظها:

او دریم اعتراض دادے که منطق فرض وے نو اصحاب به تارکین ده دی فرضونو جواب ده اول اعتراض نه دادے چه مراد دَ استنجاء نه استنجاء لغوی ده چه پاکول دی ده ذهن له غباوت نه لکن عندی دا قول ده قائل بمالایرضیٰ قائله دے او جواب جواب ده ثانی اعتراض دادے چه مراد ده کفر نه کفر لغوی دی چه پټول

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


ده ذهن دی لـه غباوت او جواب ده ثـالـث اعتراض نـه دادے چه اصحابؓ لوجه ده صحبت ده نبی علیه السلام نه دوی پیجندلے دے وحدانیت د الله تعالیٰ لره په عقل سلیم سره نو حاجت نۀ منطق ته اما په دوه قسمه دے. (١) تعلیلیه چه مدخول یې تفعیل واقع شوی وی د ماقبل د پاره بیا دا په دوه قسم دی:

(١) یو تفصیل ده ده ما اجمل دے دے په ذکر کښ او بل تفصیل ده ما حضره فی الذهن دے. دویم (٢) اما استنافیه دی ته وائی چه په هغې سره فصل رازی په مابین د کلام لاحق او سابق کښې.

پس ایزده کړه دا خبره: چه امّا په اصل کښ څوك وائی چه مهماوو دا مذهب د خلیل او څوك وائی چه په اصل کښ ان ماؤو دا مذهب سبویه دی او څوك وائی اما کلمه برأسها ده دا مذهب د ابو البقاء دی جمهور په نیزدی مأما وو.

او بَعْدُ ظرف زمان دی دری احواله پکښې رازی په دوه احوالو کښ معرب دے او په یو حالت کښ مبنی دے که مضاف الیه ده دی به یا مذکور وی یا به حذف شوے وی نسیاً یعنی نه به منسیا په ترجم کښې ذکر وی او نه په تلفظ کښې نو پدی حالت کښ به دے معرب وی او کـه مضاف الیه ده دی محذوف وی په لفظ کښی او په نیت کښ باقی وی یعنی لفظ کښ ذکر نوی او ترجمه کښی

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


ذکر وی .نو هلته مبنی به وی په ضمی سره ځکه چه دے جبیره قویه ده په ما فاته باندی او په بعد کښ دری اقوال دی ځوك وائی چه بعد ده متعلقات ده فعل شرط محذوفه نه دے ځکه چه اصل په عمل کښ فعل دے او ځوك وائی چه بعد ده متعلقات دَ جزاء نه دے ځکه چه عمل ده مذکور اولی وی ده عمل ده مقدرنه او ځوك وائی که مانع موجود ؤ ده تقدیم ده فاجزائیه نه نو دا د متعلقاتو ده فعل شرط نه دے لکه انَ راوړی پس ده فاء نه په هٰذه رسالة کښ ځکه معمول ده انَ چه خبر دے او هغه نشی مقدم کیدے په اسم ده انَ باندی نو معمول په څرنگه مقدم شی په انَ باندی او که مانع نؤ موجود لکه دا عبارة ده ایساغوجی شو چه فهٰذه رسالة دے دا بعد بیا مقدم کولے شی په فأده جزاهم مقدم کولیشی نو تقدیر ده عبارة دارنگه شو مهما یکن شیئاً من الاشیأ موجودٌ فی الدنیا بعدالبسملة والحمد والصلوٰة فهٰذه الخ او که ته وائی تعلیق په اعراضو پوری صحیح نه دے ځکه چه اشیاء ځنی عدمی او عارضی دی.

جواب دادے چه تعلیق یقینی دے ځکه بعض ده اشیأو نه الله تعالیٰ دے او وجود د الله تعالیٰ خو یقینی وؤ نو صحیح شو تعلیق په اشیاؤ پوری فهٰذِهِ قانون دادے چه په هٰذه سره اشاره

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



کولے شي مفرد مؤنث محسوس موجود مشهد باالبصر ته سوال مشار الیه خطبه به یا ابتدائیه وائي او یا به خطبه الحاقیه وائي هر واحد ددے دوارو نه صحیح کیګي هر چه دے اول ځکه چه کتاب موجود نه دے او په هٰذا سره اشارت کیګي موجود ته او هر چه دے بطلان د ثاني ځکه چه کتاب عبارت دے له وه (۷) احتملاتو نه الفاظ فقط او معاني فقط او نقوش فقط الفاظ معاني او الفاظ نقوش او الفاظ معاني نقوس درے واړه الفاظ ته اشارت صحیح ندي ځکه چه الفاظ چه موجود شي نو بیارك شي او هٰذه سره اشارت کیګي هغه موجوته چه هغه ورك نوي آو معانیو سره هم اشارت صحیح نه دے چه معاني اګر که موجود دي لیکن محسوس ندي هٰذِهِ سره اشارت کیګي موجود محسوس ته او نقوشه اشارت صحیح هم نده ځکه چه دا مقصود نه دے او هر چه دي باقي څلور واړه هغه جوړ دي ددے دریونه هر کله چه درے باطل شونو څلور هم باطل شو.

جواب دادے چه څه خطبه ابتدائیه وایم او کتاب عبارت دے د معانیونه او که تو وائے چه دا مخسوس ندي وجه د زیادت ما تقرر او حضور نه په ذهن د منصف کنبے په وجه د اجمال سره نه په وجه د تفصیل سره دا دسي دے لکه چه موجود او لکه چه

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



محسوس دی او نظیر ددے دا قول الله تعالیٰ دے. ذٰلکمُ الله رَبّکم.
الله اکبر که محسوس نه دے وجه د زیادت تقرر نه په ذهن د
مؤمنانو کښے دا دسی دے لکه چه موجود وی او لکه چه
محسوس وی نو معنیٰ دا شوه دارنګه دا ما حضر په ذهن دَ
مصنف کښ چه معنیٰ دے په سبیله د اجمال سره له وجه د زیادت
تقریر نه په ذهن د مصنف کښے دا داسی دی لکه چه موجود وی
لکه چه محسوس وی یا دا مابین الجلدتین کو خطبه الحاقیه
شی او معانئی ئے مؤل دی په رسالة سره نو وارد نه شو اعتراض
دغه چه مشارالیه دَ هٰذهِ مفرد مؤنث مشهر بالبصر ته.

رسالة: رساله دے رساله په لغت کښے په وزن د فعالة دے او په
معنیٰ د مفعوله دے یعنی رالیږلی شوی د جانب ده عدم نه
وجود ته یا د جانب مصنف نه طالبانو ته او په اصطلاح کښے
ماصغر حجمه وکبر علمه ته وائی او مقابل فتاواده ما کبر حجمه
حصر علمه لکن تسهُل علمه مناسب دی ۱۲ فی المنطق داسی
رساله چه کائن دے په منطق کښے زده کره دا خبره چه په هر
علم کښے لابدی وی د معرفت ده اُمور ثلثونه الخ تأمل ۱۲.

او تعریف د علم منطق دادے چه اٰلة قانونیة تعصم مراعاتها الذهن
عن الخطاء فی الفکر او غرض دادے چه صیانة د ذهن دَ مبتدیٔ

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



دی د خطأ نه په فکر کښې او موضوع څوك وائی چه مطلق معقولات دی او مطلق معقول دیته وائی چه حاصل شی په عقل کښې بیا معقول په دوه قسم دی یو اوّلی دے او بل ثانوی دے معقول اوّلی دیته وائی چه حاصل شی په عقل کښې اوّلا او ماصدق علیه دَده موجود په خارج کښې وی لکه انسان شو چه حاصل شی په عقل کښې په اعتبار د حیوان ناطق سره او ددے ماصدقه علیه په خارج کښې شته چه زید عمر دے.

او معقول ثانوی دیته وائی چه حاصل شی په عقل کښې په دویم مرتبه کښې او ما صدق علیه دده لره وجود په خارج کښې نه وی مکه کلیت شو او مراد پدے ځائے کښې معقولات ثانوی دے ځکه چه موصل تصوری او موصل تصدیقی دُوی په مرتبی ثانی کښې دی نه په مرتبه اوّل کښې او موصل قصوری دیته وائی چه ذاتیات حاصل کړی په ذهن کښې او مأة کښې د پاره د حصول د شی لکه حیوان ناطق حاصل کړی ذهن کښې او مرأة کره د پاره د حصولو د انسان او موصل تصدیقی دیته وائی چه صغریٰ کبریٰ حاصل کړی په ذهن کښې او مثبت اوګرزوی دپاره مدعیٰ لکه العالم حادث لانه متغیر الخ او ردنا فیها .راوړے دے مونګه په دے رساله کښې ما هغه مسئلے

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



یجب چه واجب دی استحضاره یا دول د هغه مسئلو۔ او وُجوب په دری (۳) معانیو سره رازی یو واجب استحسانی یا عرفی مایکون فعله حسناً ۱۲ لکه چه په مجلس کښې په ادب سره کینے او بل واجب عقلی دیته مالایمکن تحلف عنه چه ځان بچ کړی د بول کولو نه په لاره کښې او بل واجب شرعی چه په پریښولو د هغه سره سړی ګناهګاریګی او دلته ثالث مراد دے ځکه چه ازده کول ده دَ غه فن په نزد دوی فرض دے لمن هغه چا د پاره چه شروع کړی په شئ کښې د علومونو معیناً باالله په حال کون ځما کښې چه څه امداد غوښتونکے یم په الله تعالیٰ سره او په اُوَرِدُنَا کښې متکلم مع الغیر راوړل او په مستعیناً کښې متکلم واحد صیغه راوړه پدی کښې اشاره ده دے خبرے ته چه په دے مسائیلو کښې ماسره نور هم شریك دی او په جوړلو ده کتاب کښې زه یوازے یم یا منځم کښې ځان له اشاره کړے وه انانیت راغله نو روسته مستعیناً بِاالله راوړه د پاره دفعه د انانیت اَنه مفیض الخیر والوجود ځکه چه دغه الله تویونکه دَخیر اوه وجود دے او خیراعطاء د شئ دے ما ینبغی لیغرض او وجود اعطاء دشئ دے ما ینبغی ته لعوض.

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



**ایساغوجی :**

بعض د اصطلاحات د منطقیانو نه دَ ایساغوجی ده ایساغوجی نوم دے د کُلیاتو خمسۀ دی او نوم تول ایساغوجی دا تسمیه د کُل ده په اسم جزء سره یا ایساغوجی نوم د هغه کل دے چه مشتمل دے په هغه پنځو پانړو باندی دا ایساغوجی اول په پنځو پانړو لیکلی شوے وه دا تسمیه ده مشبه شو په اسم د مشبه به سره یا ایساغوجی نوم دے د هغه حاکم چه ماهر وو په کلیاتو خمسه کښے د تسمیه ده مماهر فیه شوه په اسم د ماهر سره یا ایساغوجی په یونانئ کښے په معنیٰ د انت نبحث سره دے نو شوه تسمیه د مباحث فیه په اسم ده مباحثینو سره .

الفظ الدال بالوضع لفظ دال چه دلالت کوی په وضع سره که نه وائی راوړه دَ لفظ د اشتغال بمالایعنی دے ځکه چه منصف موصلے تصوری دی یا موصلی تصدیقی دی او لفظ نه موصلے تصوری دی او نه موصلی تصدیقی دی جواب ترینه دادے چه دارومدار د موصلے تصوری او موصلی تصدیقی په افادی او استفادی دی او فائده او استفاده نه رازی مګر رازی په لفظ سره ځکه بحث د مفرد لفظ مقدم کړو نو اشتغالی بما یعنی دی له او دلالت کون ده شی دے په داسے شان سره چه لازمیګی د علم نه

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



په دہ سرہ علم پشیٔ آخر لکه لازمیګی د علم نه په وجود دُخان باندی علم په وجود د نار یا لازمیګی د علم نه په دے سرہ ظن په شی آخر لکه لازمیګی د علم نه په وجود د ورزہ سحاب باندی ظن په وجود د مطر باندے یا لازمیګی د ظن نه په دے سرہ ظن پشی لکه لازمیګی د ظن نه په وجود دُوخان باندے ظن په وجود دَ سحاب باندی اول ته دال وائی ثانی ته مدلول وائی پس دال به خالی نه وی یا به لفظ وی یا به غیر لفظ وی که اول وہ نو دلالت لفظے او که ثانی وہ نو دلالت غیر لفظے او هر واحد د دوی نه په دری (۳) قسم دی عقلے او طبعے او صنعے نو شپګ قسم شو مثال د دلالت لفظی عقلے لکه دلالت د زید شو چه مسموع وی د ماوراء دہ جدار نه په وجود د لافظ باندے او مثال د دلالت لفظے طبعے لکه دلالت دَ اُح اُح شو په وجع د صدر باندے او مثال د دلالت لفظے وضعی لکه دلالت د انسان شو یا حیوان ناطق باندے او مثال د دلالت غیر لفظے عقلے لکه دلالت د دُخان شو په وجود د نار باندے او مثال د غیر لفظے طبعے لکه دلالت د عرق او بض په قوت د مزاج یا په ضعف د مزاج باندی او مثال دہ دلالت غیر لفظے وضعے لکه دلالت دہ دوالِ اربعو شو په مدلولات خپل باندے لکه خطوط او نصب شو .

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



او عقود او اشارات شو او بیا دلالت وضعي لفظي په درې (۳) قسم دي: مطابقي او تضمني او التزامي او دا درې واړه اقسام ایساغوجي په متن کښې ذکر دي او مصنف په متن کښې دلالت لفظي وضعي راوړل او په دې سره احتراز اوکړو له طبعي او عقلي نه ځکه چه په طبائع کښې او عقولو کښې اختلافات رازي او دا اختلافات به رسيږي قول شارح ته او قياس ته او قول شارح به وضاحت کوونکي او قياس به مثبت د مرعي کوونکي شي نو ماتن الفظ الدال بالوضع علىٰ تمام ماوضع له لفظ دال داسې چه لفظ دلالت به کوي په اعتبار د وضع سره په تمام هغه معنىٰ باندې چه وضع کړې شوي ده دغه لفظ د دغه معنىٰ د پاره بالمطابقة او دا مُسمّٰی کوليشي په دلالت مطابق سره او مطابقي ده تطابق نه دې او تطابق موافقت ته وائي او شك نشته دې چه په دې کښې چه تام لفظ مطابق دې د تام معنىٰ سره وعلىٰ جزئه يا دلالت ده لفظ دې په جزء معنىٰ موضع له باندې بالتضمن او دا مُسمّٰی کوليشي په دلالت تضمن سره انكان له جزء کوي دې معنىٰ د پاره جزء او په ديکښې اشارة ده نسبت ته په مابين د معنىٰ مطابقي او تضمن کښې چه کوم ځائې معنىٰ تضمن وي نو هلته معنىٰ مطابقي وي لکه دلالت د انسان شو په مطابق باندې چه

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



حیوان ناطق دے او معنیٰ تضمن وی نو هلته معنیٰ مطابقی وی لکه دلالت د انسان شو په مطابق باندے چه حیوان ناطق دے او معنیٰ مطابقی وے او معنیٰ تضمنی نوی لکه دلالت د الله تعالیٰ شو په معنیٰ خپل باندی چه هغه ذات دے چه مستجمع دے جمیع صفات کمالیو لره پاك دی د زوال او نقصان نه دا معنی مطابق د ذات د الله سره ده لکن جز تری نده ځکه الله لره اجزاء نشته دے یا دلالت د لفظ دے په هغه معنیٰ باندے چه هغه لازم وی له معنیٰ له موضع له سره په ذهن او دا مُسمّٰی کولیشی په دلالت التزامی سره ځکه دا دلالت د لفظ دے په لازم د معنیٰ موضع له باندے پس په دلالت التزامی کښے لزوم راغلی دی . او لزوم په درے قسم دی :

اول لزوم په درے قسم یوه مطلق لزوم دے او بل لزوم ذهنی بین بمعنی بمعنی الاخص دے او بل لزوم ذهنی بین بمعنی الاعم دی او مطلق لزوم دیته وائی چه منع نه وی تصور د مسمٰے د تصور د امر خارج نه چه ملزوم تصور سره د لازم تصور خود بخود راشی لکه تصور د عمی نه تصور د بصر .۱۲ لکه تصور انسان تصور ممتنع ندی د تصور د صنعة الکتابت نه :

چه تصورد ملزوم هم اوشی او تصورد لازم هم اوشی نو یقین په

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



لزوم باندی حاصل شی. مزید دلیل ته ضرورت نوی اربعة تصور اوشی او زوجیت تصور اوشی نو په لزوم یقین رازی دلیل طرف ضرورت نوی.١٢

او اوس په دے مقام کښے درے مذاهب دی یو مذهب د میرسیّد سند دے او مذهب جمهورو او بل مذهب د امام رازی او په نیز د میرسید سند پدی مقام کښے مطلق لزوم معتبر دے ځکه دری واړو ته شامل دی او په نیز د جمهورو بین بمعنی الاحصن معتبر دے ځکه چه لزوم په دیکښ زیات دی د نورو نه او په نیز د امام رازی لزوم بین بمعنی الاعم معتبر دی ځکه چه عام په تعریف کښے معتبر وی لکه انسان مثال دَ دریو واړو لکه دلالت د انسان شو فانه یدل علی الحیوان الناطق ځکه چه دلالت کوی په حیوان ناطق باندی بالمطابقة دا و دا مسمٰے کولیشی په دلالت مطابق سره ځکه تام لفظ دلالت کوی په تام معنیٰ موضع له باندی وعلیٰ احدهما که دلالت ددغه لفظ انسان وی په یوه دوه باندی یعنی دلالت د انسان وی په حیوان یا په ناطق باندی بالتضمین نو دا مسمٰے کولیشی په دلالت تضمنی سره او تضمنے ته تضمنے ځکه وائی چه تضمن په لغت کښے چیزی در بغل گرفتہ را گویند او دے هم معنیٰ موضع له یو جزء نِوُلَ دی په ذهن

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


خپل كنبـے. او په اصطلاح كنبـے چه ذكر كړليشي فعل يا شبه فعل او اراده كړليشي ددينه معنىٰ د فعل يا شبه فعل آخر په قرينـے د ذكر ده متعلق سره په ما بعد كښ لكه چه ذكر كړيشو مشتغل او اراده كړى شي ددينه معنىٰ د فارغ په قرينـے ده ذكر د متعلق سره چه عنهُ دے ځكه عنهُ صله د اشتغال نه واقع كيږي.

وقابل العلم وصنعة الكتابت لكه دلالت ده لفظ د انسان وى په قابل العلم او په صنعة الكتابت باندى بالاالتزام نو دا مسمّے كوليشى په دلالت التزامى سره ځكه چه يعنى قابل العلم وصنعة الكتابت عين او جزء معنى د انسان نده لكن لازم د انسان سره ده.١٢

ثم الفظ المفرد كه څوك وائى چه اشتغال د مصنف په لفظ مفرده او په لفظ مركبه سره اشتغال په ما لايعنى دے ځكه چه مقصود په منطق موصلے تصورى او موصلى تصديقى دى او لفظ جوړ ده مفرد او مركب نه نه موصل تصورى دے او نه موصل تصديقى : نوجواب ترينه دادے چه مفرد موقوف عليه د موصلے تصورى او موصلے تصورى ته قول شارح هم وائى. اومركب موقوف عليه ده موقوف عليه ده موصل تصديقى دى ځكه چه موسلے تصديقى قياس ته وائى او قياس عبارة دے ده صغرٰى او كبرى نه او دا دواړه قضيه وى او قضيه جمله مركبه وى

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


او بیا مفرد مقدم کړه په مرکب باندی ځکه چه مفرد محتاجه الیه دے ده مرکب د پاره او علت تام ندے او علت تام مستجمع وی د جمیع شرائط د تاثیر لره او پدی وجود ده معلول باالفعل رازی.

پس دا تقدم په شپږ (٦) قسمه دے یو تقدم ذاتی دے چه هغه تقدم ده علت دے په معلول باندی لکه تقدم ده ذات ده باری تعالیٰ شه په وجود ده ممکناتو باندی او دویم تقدم زمانی لکه تقدم ده اب پلار شو په ابن باندی او دریم تقدم باالشرف دے لکه تقدم ده ابوبکرؓ شو په حضرت عمرؓ باندی او څلورم تقدم رتبی ای باالرتبه دے لکه تقدم ده اول صف شو په روستنی صفونو باندی او پنځم تقدم طبعی دے چه مقدم محتاج الیه وی د پاره ده مؤخر او او علت تام نوی ده روستنی د پاره لکه تقدم ده مفرد شه په مرکب باندی او دلته تقدم طبعی مراد دے.

او پس ایزده کړه دا خبره چه علت په څلور قسمه دے یو علت فاعلی دے او دویم علت مادی دے او دریم علت صوری دے او څلورم علت غائی ، علت فاعلی دیته وائی چه مؤثر وی په ایجاد ده شیٔ کښې لکه ترکان شو چه موثر دے په ایجاد ده کټ کښې او علت مادی دیته وائی چه پدی سره وجود ده شیٔ باالقوه رازی لکه خپی او بازوګان او میزری شو او علت صوری دیته وائی چه پدی سره وجود

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


ده شیئ باالفعل رازی لکه وجود ده کټ شو چه صادر ؤه ده ترکان او علت غائیه دیته وائی چه مخکښ وی په تصور کښ او مؤخر وی په وجود خارجی کښ او باعث وی په سړی باندی او سړے محتاجه وی دغه ته لکه څملاسته شو په کټ باندی.

قوله ثم اللفظ المفرد بیا لفظ مفرد هوالذی دا هغه لفظ دے لایراد باالجزء منه چه ایراد نشی کولے په جزء سره ده دی لفظ نه دلالة علی جزء معناه دلالت په جزء دَ معنیٰ باندی کاالانسان لکه انسان پس ایزده کړه خبره چه لفظ مفرده په پنځه قسمه دے وجه ده حصر داده چه دا لفظ به خالی نوی یا به دی لفظ لره ده سره جزء نوی لکه همزه ده استفهام شو یا به لفظ لره جزء وی لیکن معنیٰ لره په جزء نوی لکه لفظ ده الله تعالیٰ شوه کته وائی چه معنیٰ ده الله لره جز شته چه ذات مستمع دے الخ نو جواب دادے چه دا تعبیر دے ده معنیٰ نه او معنیٰ ده الله لره جزء نشته ځکه چه لفظ ده الله څنګه بسیط دے نو دارنګه معنیٰ هم بسیط یا به لفظ لره جزء وی او معنیٰ لره هم جزء وی لکن جزء ده لفظ دال نوی په جزء ده معنی باندی لکه زید عَلَمُ کیدی د پاره ده حیوان ناطق مع هٰذه التشخص. زَ په حیوان دلالت نکوی او یَ په ناطق دلالت نه کوی او دَال په هذه التشخص دلالت نه کوی بلکه مجموعه دال دے په

Scanned with CamScanner
واما اتفاقية كقولنا ان كانت الانسان ناطق فالحمار ناهق بيا شرطيه متصله يا به لزوميه وی لکه قول مذکوره شو يا به اتفاقيه وی لك قول مذکوره شو وجه ده حصر پدوی کښې داده که علاقه ده لزوم پکښې وه نو هغه لزوميه او علاقے لزومی دیته وائی چه يا مقدم علت وی دپاره ده تالی لکه ان کاتب الشمس طالعة فالنهار موجود يا به تالی علت وی د پاره ده مقدم لکه ان كان النهار موجودٌ فالشمس طالعة يا به دواړه معلولين ده علت ثالث وی لکه ان کان النهار موجودٌ فالارض مُضِيئَة دا دواړه معلولين ده علت ثالث دی چه طلوع ده شمس ده او که څوك دا اعتراض اوکړی چه اتفاقيه دی هم لزوميه شی ځکه چه کون ده انسان ناطق او ده حمار ناهق ده دواړو معلولين ده علت ثالث دی چه

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



وجود ده الله تعالیٰ دے.

جوابونه ده دینه دوه دی اول جواب دادے چه مراد په علت ثالث سره علت ممکنه دے چه هغه طلوع ده شمس دے او وجود ده الله تعالیٰ علت واجبه دے او ده علت واجبه نه بحث نه کوی منطق کښې.

او ثانی جواب دادے چه قصد ده متکلم مراد دے چه په دواړو قضیو کښې چه مقدم او تالی دے که متکلم قصد ده لزوم کړے وی په مابین ده دواړو کښې نو لزومیه ده او که قصد ده لزوم نه وی کړے نو بیا اتفاقیه ده. قوله والمتفصلة اما حقیقة کقولنا العدد اما زوجٌ او فردٌ قضیه منفصله یا به حقیقه وی لکه قول مذکوره شو او دیته حقیقه وائی ځکه چه په جمعه کښې هم انفصال دے او په پورته کولو کښې هم انفصال دے ځکه چه زوج او فرد دواړه په عدد کښې جمعه کیدے هم نشي او عدد ده دی نه خالی کیدے هم نشي ځکه چه جز ده دی اغستے شی چه اما زوج دے ده نقیض خپل سره چه لازوج دے یا جزء ده دی اغستے شی مساوی ده نقیض لره لکه زوج واخلی ده فرد سره او مساوی دے ده نقیض ده زوج سره چه لازوج دے که دواړه جمعه کړی په اول سورة کښې چه زوج اغستے دے ده لا زوج سره نو اجتماع ده نقیضین راغله او کو پورته کوی نو ارتفاع ده ده نقیضین راغله باعتبار ده امر مساوی سره چه تا فرد مساوی کړے دے دَ لا زوج سره واما نعمة

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


الجمع فقط كقولنا اما ان يكون هذالشئ حجرًا وشجراً يا به دا قضيه منفصله مانعة الجمعه وی فقط معنی داده چه جمعه منعه ده او خلوه صحيح ده لکه قول مذکوره شو ځکه چه په یو شی باندی حجر او شجر نه جمعه کیگی که شئ وی نه حجر وی او نه شجر وی نو تهيك دے لکه دا کتاب شئ دے نه حجر دے او نه شجر دے دلیل دادے چه جزء ده دی اغستے شی چه حجر دے ده هغه شی سره چه هغه اخص وی ده دی دَ نقیض نه چه هغه شجر دے ځکه چه لاحجر شجر لره هم ورغلے دے او انسان لره هم ورغلے دے نو که ته حجر او شجر دواړه جمعه کوی نو لازمیگی ده وجود ده شجر نه لاحجر ځکه چه ثبوت ده خاص مستلزم دے ثبوت ده عام لره چه هغه لاحجر دے او حجر اولا حجر شو او دا ندے مگر اجتماع ده نقیضین ده که حجر او شجر دواړه پورته کړی نو ارتفاع ده نقیضین راځی ځکه چه دفعه ده خاص چه شجر دے دا نه لازموی دفعه ده عام لره چه لاحجر دے.

واماما نعة الخلو فقط كقولنا اما ان يكون زيد في البحر واما ان الايغرق يا به دا منفصله مانعة الخلو وی فقط او ده فقط معنی چه خلوه ده دی دواړو جزئین منعه ده او جمعه صحیح ده لکه دا قول څمونگه شو چه یا به زید په دریاب کښ وی او یا به غرق نوی او دا دواړه جزئین چه جمعه شی چه زید فی بحر دے او ان

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



لایغرق دے اجتماع ده نقیضین نه رازی ځکه چه زید په دریاب کښ په کشتی کښ وی او غرق دی نوی او که ده دی دواړو جزئین نه خالی شی نو زید به په دریاب کښ نشی او غرق به شی او دا خبره باطل ده ځکه چه دیته خسف وائی او غرق ورته نه وائی.

دلیلونه دادی چه جز ددے اخستی شی چه اما ان یکون فی البحر دے د هغه شے سره چه هغه اَعَمُ دے دده د نقیض نه چه امّا لا یغرق دے ځکه چه ان لا یغرق زید فی البحر لره هم ورغلے دے چه کشتی کښی ناس وی او زید لافی البحر لره هم ورغلے دے چه په وجه وی که زید فی البحر پورته شی نو دفعه دعام چه ان لایغرق دے دا به مستلزم شی رفعه د خاص لره چه زید لافی البحر دے نو دواړه جزئین به پورته شی چه زید فی البحر دے نو لازم به ارتفاع د نقیضن چه زید لافی البحر دے او زید فی البحر دے او که دواړه جزئین جمعه شی چه زید فی البحر امّا ان لایغرق دے نو اجتماع د نقیضین نه رازی ځکه چه ثبوت د خاص مستلزم نه دے ثبوت د عام لره ځکه چه عام امّا ان لا یغرق دے دادے په ضمن د بل فرد کښے وی چه زید فی البحر دے نو لازم نشو چه اجتماع د نقیضین چه زید فی البحر دے او زید لا فی البحر دے. وقد تکون المنفصلات ذات اجزاءٍ کقولنا هٰذالعدد اما زائد او ناقص او مساوٍ او کله کیگی منفصله خاوند

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



د درے (۳) اجزاء لکه قول مذکوره شو پس زده کړه دا خبره چه عدد په نیـزد اهـل حسابو باندی نصف د مجموعی طرفین دی لکه ثلاثه شو لاندے ترینه دوه دئ او پاسه له دے خلور (۴) دی او دا خلور او دوه جمعه کئ نو کیږی شپگ (٦) او د شپگو نصف درے دی او یو د دوی په په نیز عدد نه دے ځکه چه لاندے ترے اگر که طرف شتے چه نصف دے لیکن کسر په نیز ده دوی بانـد معتبر نه دے او ده دوو (۲) په نیز ده دوی باندی هم عدد نه دے اگر که لاندے ترینه یو دے د پاسه ترینه درے (۳) دی او یو درے چه جمعه کړے نو کیگی خلور او د خلورو نصف دوه (۲) دی لیکن دوه (۲) مشابه دی د یو سره په دے خبره کښے چه یو اوّل مرتبه دَ فرد ده او ده اول مرتبه ده زوج ده یو خو عددنه وو نو ددے هم عدد نشتے پس عدد په دوه قسم دے یو اصم دے او بل منطق اصم دیته وائی چه یو د کسورو تسعونه ورلره نه لکه نصف ثلث او ربع (۴) شو نُسعه پورے لکه دریالس (۱۳) شو هغه نصف هم نشته او ثلث هم نشته تر تسعه پورے او منطق دے ته وائی چه یو د کسورو تسعونه وله وی لکه شپگ (٦) شو چه نصف دری دی او ثلث دوه (۲) دی او سدس ئی یو دے او دا منطق په کور کښے درے (۳) قسم دے زائد دے او ناقص دے او مساوی دے زائد دیته وائی چه یو د

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


کسور تسعونه راجمع کئ نو زائد به وی په اصل عدد باندی لکه دولس شو نصف شپگ (٦) دی او ثلث څلور دی او ربع دری دی او سُدس (۲) ده دوی دوه دی او درے او څلور او دوه او شپږ چه راجمع کړے نو زائد شو په اصل عدد باندے څکه چه ددے نه جوړ شو پنځلس (۱۵) او پنځلس زائد دی په دولس باندے آته (۸) شو او اتو نصف څلور دی او ربعه دوه دی او ثمن یو دے او څلور (۴) او دوه (۲) او یو (۱) چه راجمع کړے نو اوه (۷) شو او وه(۷) ناقص دی په اصل عدد باندی چه آته (۸) دی او مساوی دیته وائی چه یو د کسور تسعونه راجمع کړے نو مساوی وی ده اصل عدد سره لکه چه شپگ دی د شپگو نصف درے (۳) دی او ثلث دوه دی او سدس (٦) یو دے درے او دوه او یو چه راجمع کړے نو مساوی د اصل عدد سره شو چه شپگ دی.

والتناقض وهو اختلاف القضين بالايجاب والسلب بحيث يقتضى لذاته ان تكون احدهما صادقه ولاخرىٰ كادبة كقولنا زيد كاتب وزيد ليس بكاتب تناقض اختلاف د قضیتن دی په ایجاب او سلب سره پدے شان سره چه تقاضی کوی لذاتِه یو ددینه به صادق وی او بل به کاذب وی لکه مثالین مذکورین شو او تناقض په لغت کښے نفس اختلاف ته وائی او په اصطلاح کښے تعریف مذکوره ته وائی چه څوك دا اعتراض چه تناقض راوړل اشتغال

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



بما لا یعنی دے ځکه چه دا مقصود د منطق نه دے ځکه چه مقصود د منطقي قول شارح او قیاس دے.

او جواب ترینه دادے چه دا موقوف علیه د قیاس دے ځکه چه قیاس یو قیاس دے چه هغے ته عکس نقیض وائی که څو پورے تناقض ونه پیژندلے شي نو عکس نقیضن چه قیاس دے هغه څرنګ وپے ژندے شي نو ددے وجے نه مقدم شو په قیاس باندے او بحث ترینه صحیح شو او تناقض لغوی معنیٰ عام ده په مینځ د مفردین کښے وی لکه زید او لا زید شو او که په مینځ د مفرد او قضیی کښے وی او که د قضیتن په مینځ کښ وی او دا قول چه اختلاف القضیتین دے په دے سره خارج شو هغه اختلاف چه په مابین د مفردین کښے وی په مینځ مفرد او قضیی کښے وی او دا قول چه بالایجاب لمد والسلب دے دے سره خارج شو هغه اختلاف چه په عدول او په حصول سره وی پس دا عدول په درے (۳) قسم دے یو دادے چه حرف سلب جزء وی د طرفین نه لکه لازیدٌ لاحجر یا جزء وی له موضوع نه لکه لا زید حجر یا به جزء وی له محمول نه لکه زید لاحجر او مثال د محصلی لکه زید کاتب او فرق په مابین د سالبة المحمول او سالبے کښے دادے چه رابط په معدولی کښے روسته وی له حرف سلب نه لکه زید لاحجر هست او په سالبه کښے به

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


مخکښې وی او دا حرف روسته وے د سلب نه لکه زید لیس هو بکاتب او دا قول چه حیث دے نو حیث په درے قسم دے یو تقیدی دے او بل اطلاقی دے او بل تعلیلی دے او حیث اطلاقی دیته وائی چه ما بعد د حیث نه عین ما قبل وی لکه الحیوان من حیث هو حیوان او حیث تقیدی دیته وائی چه ما بعد ددینه نه قید وی د پاره د ماقبل لکه الانسان من حیث هو انّه ضاحك او حیث تعلیلی دیته وائی چه ما بعد ددینه علت وی د پاره د ماقبل لکه په دے مثال مذکوره لذاتِه په دے سره خارج شو تنا قض په اعتبار د مساوات سره لکه زید انسان زید لیس بنا طق او دا قول چه لیس بناطق دے دا په حکم د لیس بانسان کښې دے ځکه چه د ناطق چه د ناطق او د انسان نه په منځ کښې مساوات او دا قول چه ان یکون احد هما صادقة پدے سره خارج شو چه دواړه قضیې صادق وی لکه:

| | |
|---|---|
| کل انسان حیوان ولیس شئ من الانسان بحیوٰن | ده دواړه صادق |
| دی کل انسان فرس ولا شئ من الفرس بمعاجِد | دا دواړه کاذب دی |

في المخصوصين ولا يتحقق ذالك لاختلاف الا بعد اتفاقهما في الموضوع والمحمول والزمان والمكان ولااضافة والقوة والفعل والجزء والكل والشرط نه متحقق کیګی دغه تناقض له وجه د اختلاف نه په مخصوصین کښې مګر پس له اتفاق ددے

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



دواړو نه په دغه شروطو مذکوره سره ولے که اتفاق ددے دواړو قضیو په موضوع کښے نوی نو تناقض نشته لکه زید کاتب وعمرٌ لیس بکاتب که اتفاق ددے دواړو په محمول کښے رانشی نو بیا تناقض نشته لکه زید کاتب وزید لیس بقایمٍ که اتفاق په زمانه کښے نوے ددے دواړو نو بیا تناقض نشته لکه زید قایمٌ فی النَهار وزید لیس یقایئم فی اللیل که اتفاق په مکان کښے نوی نو بیا تناقض نشته لکه زید قایمٌ فی السوق وزید لیس بقایم فی الدار او که په اضافت کښے اتفاق نوی نو بیا تناقض نشته او مراد په اضافت سره اضافت نحوی ندے اضافت منطقی دے چه هغه تصور دَ احد هما موقوف وی په تصور د آخر پورے لکه تصور د اَب او اِبن شو ځکه چه په تعریف کښے ابن مأخوذ دے چه اَب من له الابن ته وائی او په تعریف د ابن کښے مأخوذ دے ځکه اِبن من له الاب ته وائی مثال چه اتفاق په اضافت کښے وی لکه زید اَب لِعَمْرٍ وزید لیس بابٍ لبکرٍ او که په قوت او په فعل کښے تناقض نوی په یوه قضیه کښے قوتْ او په بل کښے فعلت وی نو تناقض نشته لکه اجزاء الخمر مسکرة فی الدوُن باالقویٰ ولیس بمسکرٍ بالفعل ترجمه اجزاء د شراب په چاتی کښے بالقوة نشی راولے او بالفعل نه شو نه راولی او جزء او کل په مینځ کښے اتفاق نه وی نو تناقض نشته پدے شان سره چه جزء په یو

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


قضيه كبنيے وي او كل په بل قضيه كبنيے وي او مثال ددے دادے چه الزّالخي اسود كله وليس بالسود بصفة ترجمه حبشي تور دے ټول او بعضے له دے نه تور نه دے لكه غابنونه شو او نكون شو او كه اتفاق په شرط سره رانشي نو تناقض نشته لكه زيد كاتبٌ بالقلم والسطي وزيد ليس بلمكاتب بقلم آخر او واسط ځائے نوم دے زده كړه دا خبره چه په شروط د تناقض كبنيے درے (٣) مذاهب دي. يو مذهب متقدمين دے او بل مذهب د متأخرين دے او دريم مذهب د فارابي دے او مذهب ددے كتاب دا متن دے ليكن حصر په اتو (٨) كبنيے نشته بلكه دا تور دے. **مثال** ذكر دے بلكه نه به دا تناقض په اختلاف د حال سره هم رازي او په اختلاف د تميز سره هم رازي او په اختلاف د مفعول مطلق سره هم رازي او په اختلاف د مفعول معا سره هم رازئ. او **مذهب** د متأخرين دادے چه په وحدت د موضوع محمول شرط دے په تناقض كبنيے او جز او كل او شرط دا راجع موضوع ته او زمان او مكان او اضافت او قوة او فعل دا راجع دے محمول دے او مذهب د فارابي دادے چه وحدد نسبت شرط كه وحدت د نسبت نوي نو بيا تناقض نشته لكه پدي وحدات كبنيے په اختلاف د نسبت كبنيے پدے اتو (٨) وحدات كبنيے بدلي ليكي او كه اتفاق وي پدي اتو (٨) وحداتو كبنيے نو نسبت نه بدلي لكه

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



زید کاتب وزید لیس بکاتب کښې نسبت په یو حال سره دے.

**جواب** د متأخر او فارابی نه دادے چه امتن جوړ شوے دے ده مبتدی د پاره او **مبتدی** پدے دوو (۲) خبرو نه پو هیگی چه هغه حدت د موضوع او محمول دے او بل وحدت د نست دے.

قنقیض الموجبة الکلیة انمّا السالبت الجزئیه کقولنا کل انسانٍ حیوان وبعض الانسان پس بحیوان پس نقیض د موجبه کلیه یقیناً دا به سالبه جزئیه به وی لکه دا قول زمونګه کل انسان حیوان وبعض الحیوان لیس بحیوان شو او که څوك دا اعتراض وکړی چه فنقیض تحقیق التناقص بینها الابعد اختلافهما فی الکلیة والجزئیه څکه چه کلیت او جزئت په اَتو (۸) وحداتو نه روسته دا په محصورو کښې رازی.

جواب ترینه دادے وحدت د موضوع په تناقض کښې شرط وو او کلیه او جزئیة دا چه راجمع کړی د وحدت موضوع ته څکه دا عبارت به څنګه د وحدات ثمانیو کښې راوړل که څوك دا اعتراض وکړی چه ضمیر د هی راجمع کول نقیض ته دا صحیح نه دے څکه چه مطابقت په مابین د راجع او مرجع شرط دے او دلته مطابق نشته جواب ترینه دا دے چه تانیث د ضمیر په اعتبار دے خبر سره دی څکه چه خبر داخل الکلام وی او مرجع ددے قضیی نه خارج وی.

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



قوله ونقيض السالبة الكلية انما هى هى الموجبة الجزئية كقولنا لاشيء من الانسان بحيوان وبعض الانسان حيوان ده سالبه كليه په نقيض يقيناً د موجبي جزئيه رازى لكه دا قول مذكوره شو. قوله والمحصورة تان لايتحقق التناقض الا بعا اختلافهما فى الكلية والجزئيه الخ په محصورتين كښي نه متحقق كيگى تناقض مگر پس له اختلاف ده دى دوارو نه كليت او په جزئيت لان الكيتين قد تكذبان كقولنا كل انسانٍ كاتب ولا شى من الانسان بكاتب ځكه چه كليتين كله كله دروغجن كيگى لكه قول مذكوره شو چه ده كاتب نه په موجبه كليه كښ كاتب باالفعل واخلى او ده كاتب نه په سالبه كليه كښ كنابت باالفعل واخلى كه اول نه كتابت باالقوة واخلى او ده ثانى نه باالفعل واخلى نو تناقض نشته كه څوك دا اعتراض اوكى چه لفظ ده قد چه په مضارع باندى داخل شى نو تقليل فائده كوى چه وى دى قضيتين صادق په بعض ځائينو كښ چه لكه كل انسان كاتب نه كتابت باالقوة واخلى او ده لاشى من الانسان بكاتب نه كتابت باالفعل واخلى جواب ترينه دادے چه قواعد ده منطق قواعد كليه دى نو قد په قد تكذبان كښ ده تقليل د پاره ندے بلكه ده تحقيق د پاره دے او په قرآن كښ نقيض ده سالبئ كلى د پاره موجبى جزئيه راغلے دے لكه الله تعالىٰ رد كوى په يهود باندى ما انزل الله على بشر من شئ نو الله

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



تعالیٰ جواب رد وکو پدی قول سره من انزله الکتاب علی موسیٰ
دا خو یهود منی چه په موسیٰ علیه السلام باندی تورات نازل
شوے دے نو نقیض ده سالبی کلیه او موجبه راغله والجزیتین
قد تصدقان او جزئیتین کله صادقیګی لکه دا قول څمونګه شه
چه بعض الانسان کاتب د بعض الانسان لیس بکاتب لکه قول
څمونګه شه په بعض انسان کاتب دے لکه عبدالغفار شه او
بعض ندے کاتب لکه شالپین باباجی صاحب که څوك دا
اعتراض وکړی په قد تصدقان کښ دَه تقلیل دِ پاره د پاره دے نو
بعض موجبه جزئیه او سالبه جزئیه دواړه نوی صادق جواب ترینه
دادے چه قد په قدتصدقان کښ ده تحقیق د پاره دے نه ده تقلیل
د پاره ځکه چه قواعد ده منطق کلی دی نه جزء ی.

## قـــولـــه الـــعـــکـــس

وهو ن یصیرّ الموضوع محمولاً والمحمول موضوعاً مع بقاء
الایجاب والسلب والصدق والکذب بحاله او عکس معنی لغوی
تبدیل دے او په اصطلاح ګرزول ده موضوع دی محمول او
ګرزول ده محمول دی موضوع سره بقاء ده ایجاب او ده سلب نه
پدیشان سره چه اصل موجبه وی نو عکس به هم موجیبه وی چه
اصل سالبه وی نو عکس به هم سالبه وی سره بقاء ده صدق او ده
کذب نه پدیشان سره چه اصل صادق وی نو عکس به هم صادق

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


وی چه اصل کاذب وی نو عکس به هم کاذب وی بحاله هر یو په خپل حال سره وی که څوك دا اعتراض اوکړی چه راوړل ده عکس اشتغال بمالا یعنی دے ځکه چه دا نه موصل تصوری دے او نه موصل تصدیقی دے جواب ترینه دادے چه دا موقوف علیه ده موصل تصدیقی ځکه چه بعض ده موصلی نه عکس نقیض دے که څوك دا اعتراض اوکړی چه موضوع به څرنګه ګرزوی محمول سره ده دی خبری نه چه موضوع ذات دے او محمول وصف دے.

جواب ترینه دادے چه موضوع نه هم تعبیر کولیشی په وصف سره لکه دَ زید نه مسمّی الزید واخلی او ده وصف نه تعبیر کولیشی په ذات سره لکه ده الناطق نه ذات واخلی سره د وصف نه یاده الناطق نه ذات واخلی په اعتبار ده الف لام موصولی سره او دلیل ده بقا ده ایجاب او ده سلب او د صدق او ده کذب او ده بحاله نه مراد دادے چه عکس لازم وی ده اصل سره او سلب لازم ندے ده ایجاب سره او کذب لازم ندے ده صدق سره ځکه چه ده دوی په مابین کښے تضاد دے او دا کذب په نیزده بعضو باندی سهوه ده کاتب ده له قلم ده کاتب نه ځکه چه ډیر ځله اصل کاذب وی او عکس صادق وی لکه کل حیوان انسان دا کاذب دے او بعض الانسان حیوان دا صادق دے.

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



او دویم جواب تـریـنـه دادے چه دا کذب طرداً للباب راوړے دے

قوله والموجبة الکلیه لا تنعکس کلیة او موجبه نه منعکس کیګی کلی ته اذ یصدق قولنا کل انسان حیوانٌ ولا یصدق کل حیوان انسان ځکه چه صادقیګی دا قول څمونګه چه کل انسان حیوان ځکه ثبوت ده حیوان انسان لره دا ثبوت ده ذاتي دے ذات لره او نه صادقیګی دا قول څمونګه چه کل حیوان انسان دے ځکه چه حمل ده خاص په عام باندی باطل دے او پدی ځائی کښ حمل ده خاص راغلے دے چه انسان دے په عام باندی چه افراد ده حیوان دی بل تنعکس جزئية بلکه منعکس کیګی موجبه کلیه موجبه جزئیه لان اذ قلنا کل انسان حیوان یصدق قولنا بعض الحیوان انسان ځکه چه په کوم وقت چه ؤوایو مونګه چه هر انسان حیوان دے نو صادقیګی دا قول څمونګه چه بعض حیوان انسان دے

قوله فانا نجد الموضوع موصوفاً باالانسان والحیوان یقیناً مونګه مومو ذات ده موضوع موصوف په انسان سره او په حیوان سره نو ده دینه شکل ثالث جوړ شه چه کل ذات حیوان وکل ذات انسان ده شکل ثالث چه نتیجه ورکی نو په عکس ده صغری سره ورکی نو بعض الحیوان ذات وکل ذات انسان نو اس شکل اول شه نو ذات ترینه لری که نو بعض الحیوان انسان شه او دا څمونګه مدعی وه چه ده کل انسان حیوان عکس به بعض

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



الحيوان انسان وي او دیته دليل افتراض وائي ځکه چه په دي کښ ذات دَ موضوع او ده محمول فرض شوے دے او دویم دلیل دادے که ده کل انسان حیوان دا عکس ده بعض الحیوان انسان نشي نو ده دي نقیض به راشي چه هغه لاشئ من الحیوان بانسان دے نو قیاس ترینه دا جوړ شي چه کل انسان حیوان ولاشئ من الحیوان بانسان نو حیوان حیوان به ترینه لری کړی نو لاشئ من الانسان بانسان به شي نو لازم به شي سلب ده شي ده نفس خپل نه او دا خو محال دے او دا محال ده څه نه لازمیده چه تا ده کل انسان حیوان عکس بعض الحیوان انسان نه منه او دیته دلیل ده عکس نقیض وائي او دریم دلیل دادے چه ته ده کل انسان حیوان عکس بعض الحیوان انسان ؤ نه مني نو نقیض به مني چه لاشئ من الحیوان بانسان دے دا به ضم کي ده اصل سره نو دینه به لازم شي مخالفت په مابین ده اصل کښ او ده عکس کښ ځکه چه په اول قضیه کښ چه اصل دے حیوان ثابت دے انسان لره او په عکس کښ بـه سلب ده انسان راشي د ټولو افرادو ده حیوان نـه او حال دادے چه عکس لازم وي ده اصل سره او دیته قیاس خلف وائي .

قوله والموجبة الجزئية تنكعس جزئية لهذه الحجة ايضاً او موجبه جزئیه منعکس کولیشي جزئیه ته په دغه حجت مذکوره سره چه دلیل افتراض دے یا عکس نقیض دے یا قیاس خلف دے

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



ولی کہ دہ الحیوان انسان عکس بعض الانسان حیوان رانشی نو
دہ دی نقیض بہ وی ولی کہ نقیض نشی نو ارتفاع دہ نقیضین بہ
راشی دہ ھغہ نقیض دادے چہ لاشئ من الانسان بحیوان نو
قیاس ترینہ دا جوړ شو بعض الحیوان انسان ولاشئ من الانسان
بحیوان نو حد اوسط ترینہ لری کہ چہ انسان انسان دے نو نتیجہ
بہ دا راوزی چہ بعض الحیوان لیس بحیوان دا ندے مگر سلب دہ
شئ دہ نفس خپل نہ او دا محال دے او دا محال د څہ نہ راغے چہ
تابعض الحیوان انسان عکس بعض الانسان حیوان او نہ منہ :

او دویم دلیل دہ دی دعوی د پارہ دادے چہ عکس د موجبی
جزئیہ د پارہ بہ موجبہ جزئیہ رازی ولی کہ دہ بعض الحیوان
انسان عکس بعض الانسان حیوان را اونؤزی نو نقیض بہ راشی
چہ ھغہ لاشئ من الانسان حیوان دے او کہ تہ نقیض نہ منی
نو بیا بہ ارتفاع دہ نقیضین راشی د بعض الانسان حیوان نقیض
لاشئ من الانسان بحیوان دے او حال دادے چہ دا مخالف دے
دہ اصل نہ چہ بعض الحیوان انسان دے ځکہ چہ پدی کبنی
انسان ثابت دے بعض حیوان لرہ او پہ لاشئ من الانسان بحیوان
کبنی سلب د حیوان دے د ټولو افرادو دہ انسان نہ داندے مگر
اجتماع دہ متنافین دے او اجتماع دہ متنافین خو محال دہ او دا
محال دہ څہ نہ لازم شہ چہ تا عکس دہ موجبی جزئیہ چہ بعض

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



الحیوان انسان دے ده دی عکس تابعض الانسان حیوان نه منه دا اومنه :

او دریم دلیل ده افتراض دے ده دی دعوی مذکوری د پاره هغه دادے چه مونگه به یو ذات فرضو کو هغه به موصوف کړ په انسان سره نو بعض الذات انسان به وایو او بل ذات به فرض کو هغه به موصوف کو په حیوان سره نو بعض الذات حیوان به وایو دا قیاس به ترینه جوړ شی چه بعض الذات انسان وبعض الذات حیوان نو دا شکل ثالث شه چه حد اوسط موضوع شه په دواړو کښ چه هغه ذات ذات دے او شکل ثالث چه نتیجه ورکوی نو په عکس ده صغرٰی سره ورکی چه هغه عکس ده صغرٰی دے عکس ده صغرٰی دادے چه بعض الانسان ذات وبعض الذات حیوات نو شکل او ترینه جوړ شو چه هغه اوسط محمول په صغرٰی کښ او موضوع وی په کبرٰی کښ چه هغه ذات ذات دے دغه ذات به ترینه لری کړو نو شی به بعض الانسان حیوان او دغه زمونگه مدعه وه او چه ده بعض الحیوان انسان عکس بعض الانسان حیوان رازی. قوله السالبة الکلیة تنعکس کلیته او سالبه کلیه منعکس کیگی کلیه ته قوله وذالك بیّنٌ بنفسه دا ښکار دے په اعتبار ده ذات خپل سره کخوك دا اعتراض اوکی چه دا بین بنفسه دے او ، ن بنفسه ترجمه داده چه بدهی جلی دے او ده

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


دی حاجت دلیل ته نشه جوابونه ترینه دری دی یو جواب داد ے
چه بدهی خفی دے او ده بدهی خفی حاجت تنبیه ته وی او دا ده
متن عبارة تنبیه دے په بدهی خفی باندی. او دویم جواب داد ے
چه دا بدهی دے روسته ده دلیل نه او یا دا بدهی دے په اعتبار ده
مائبونُو الیه سره فانه اذا صدق لاشی من الانسان بحجر یصدق
لاشیٔ من الحجر بانسان ځکه چه شان داد ے چه په کم وقت کښ
صادق شی لاشی من الانسان بحجر نو صادقیګی به دا قول چه
لاشیٔ من الحجر بانسان دے ولی که دا صادق نشی نو ده دی
نقیض به صادق شی چه بعض الحجر انسان دے دا به مونګه ضم
کؤ ده اصل سره نو قیاس به ترینه دا جوړ شی بعض الحجر انسان
ولاشیٔ من الانسان بحجر حد اوسط به ترینه لری کړو چه هغه
انسان انسان دے نو نتیجه به ترینه دا رااوزی چه بعض الحجر
لیس یحجر نو سلب ده شیٔ ده نفس خپل نه راغلے او دا خو محال
دے او دا محال ده څه نه لازم شوے دے ځکه چه تا عکس ده
سالبیٔ کلیه سالبه کلیه نه منله:
اول دلیل عکس نقیض دے او دویم دلیل قیاس خُلف دے هغه
داد ے چه لاشیٔ من الانسان بحجر عکس لاشیٔ من الحجر
بانسان رانشی نو ده دی نقیض به راشی چه بعض الحجر انسان او
دا خو منافی ده دے ده اصل سره چه لاشي من الانسان بحجر دے

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



ځکه چه دلته حجر نفی دے ده تولو افرادو ده انسان نه. او په بعض الحجر انسان کښی انسان ثابت دے حجر لره او دا ندے مگر اجتماع ده متنافین دے او اجتماع ده متنافین محال دے او دا محال ده ځنه راتله چه تاعکس ده سالبی کلی سالبه کلیه نه منله.

او دلیل ده افتراض دادے پدیکښی نه جاری کیگی ځکه چه په هغه کښی مونگه ذات فرض کړے دے موصوف په دوه (۲) څیزونو سره چه هغه وصف ده موضوع دے او یا وصف ده محمول دے او پدیکښی سلب راغلے دے.

قوله والسالبة الجزئية لاتنعكس لزوماً او سالبه جزئیه نه منعکس کیگی په طریقی ده لزوم کلی سره ځکه لانه یصدق بعض الحیوان لیس بانسان ولا یصدق عکسه ځکه چه شان دادے چه صادقیگی چه بعض حیوان ندے انسان لکه حمار شو او نه صادقیگی عکس چه بعض الانسان لیس بحیوان دے ځکه چه سلب ده ذاتی به راشی چه حیوان دے ده ذات نه چه انسان دے او په هغه ځائی کښی نه صادقیگی چه موضوع عام وی او محمول خاص وی او که موضوع او محمول په مابین کښی تبائن کلی وی نو هلته صادقیگی لکه بعض الحیوان لیس بحجر نو صادقیگی بعض الحجر لیس بحیوان پس ایزده کړه دا خبره چه عکس په دوه قسمه دے یو عکس نقیض دے او بل عکس مستوی دے په

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


عکس نقیض کښې دوه مذهبه يو مذهب ده متقدم دے او بل مذهب ده متأخر دے مذهب ده متقدم دادے چه نقيض ده موضوع محمول کې او نقيض ده محمول موضوع کړی د کل انسان حيوان کل ما هو اليس بحيوان فهو ليس به انسان او مذهب د متأخر دادے چه په نقيض د محمول دا واخلی هغه موضوع لکه کل ما هو ليس بحيوان فهو انسان او مذهب د متقدم غوره دے له مذهب د متأخير نه ځکه چه په مذهب د متقدم کوم شی نه وی نو هغه به انسان وی ځکه چه رفع د عام مستلزم دے رفع د خاص لره او مذهب د متأخرين کښې رفع عام مستلزم رفع د لره نشته ځکه چه رفع د حيوان مستلزم ثبوت د انسان لره دے او عکس مستوی لکه تعريف د متن شو الخ فهم هر کله چه قاروغ شوله مبادی د قياس نه چه قضيه ده او عکس او تناقض ده نو شروع وکړه په مقعد ثانی منطق باندے چه هغه حجة او دا په دری قسم دی قياس استقراء تمثيل دے نو ووئيل چه القياس قول مؤلف من اقوالٍ متٰی سُلِّمَتْ لزم عنها لذاتها قول آخر قياس په لغت کښې اندازی ته وايي يا اعتبار ته وائی لکه فاعتبروا يا اولنو الابصار شو قياس يو قول دے چه مرکب وی د قولين نه چه په کوم وقت کښې ومنلی شی نو لازميګی ددے نه لوجه د ذات ددينه د منل قول آخر چه نتيجه ده او نتيجه په لغت کښې پيدائش ته وائي او

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



دا نتیجه اصطلاحی هم پیدا ده د قیاس نه

پس دا قیاس په دوه (۲) قسم دے یو (۱) مرکب معقول دے او بل مرکب ملفوظ دے څوك وائی چه قیاس مشترك دے په مینځ ددے دواړو کښے چه معقول او ملفوظ دے منطقیان وائی چه قیاس حقیقت دے په معقول کښے او مجاز دے په ملفوظ کښے او دا خبره صحیح ده ځکه چه منطق بحث کیٔ د معقول نه او مجاز دے په ملفوظ کښے ځکه چه افاده او استفاده دا موقوف دی په لفظ باندے اس قول ئی وویل او مرکب ئی ونه وئیل ځکه چه قول جامد لره هم ورزی او مشتقی لره هم ورزی من اقوال به جامد پورے تعلق صحیح نه دے مؤلف ځکه زیات کړه او مرکب او مؤلف په مینځ کښے دا فرق دے چه مرکب عام دے چه د دوه (۲) کلمو په مینځ کښے مناسبت وی که نوی او مؤلف خاص دے چه د دوو (۲) کلمو په مینځ کښے مناسبت وی او اقوال نه جمعیه منطقی مراد دے چه هغه دوه (۲) دی ځکه چه د ډیرو اقوالو نه مرکب وی نو هغے ته قیاس نشی ویلی بلکه هغه ته قیاسات وائی من اقوالٍ ویل ای من مقدِّماتٍ اُنه وئیل ځکه چه په تعریف د مقدر کښے تا قیاس مأخوذ دے ځکه چه مقدم دیته وائی چه جزوی د قیاس نه نولازمیګی دور ځکه قیاس موقوف شو په مقدمی باندے او مقدم موقوف شو په قیاس باندے متی

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



سلمت کم وخت کښې تسلیم وکړی شی ددے قولین د قول چه مثی سلمت دے نو په دے کښې داخل شو قیاس صادقه او قیاس کاذبه د قیاس صادقه مثال لکه کل جسمٍ مرکّبٌ وکل مرکّبٌ محدث فکل جسمٍ محدث او مثال دِ قیاس کاذبه لکه کل انسان حمارٌ فکل انسان حجرٌ او دا قول چه لزم عنها لذاتها دے قول آخر پدے سره استقراء ناقص خارج شو او استقراء ناقص دیته وائی چه جزئیات د کلی تالاش وکړی بیا ترینه نتیجه وباسی لکه ته وائے الانسان یحرك فکه الاسفل والبقر یحرك فکهٔ الاسفل والمار یحرك فکه الاسفل والفرس یحرّك فکه الاسفل حاصل دادے چه اکثر انواع ده حیوان لره دا حکم ثابت کړی چه یحرّك فکه الاسفل نو نتیجه به دا راوزی چه کل حیوان یحرّك فکه الاسفل لیکن دا نتیجه قوی نه ده ځکه چه بعض د حیواناتو نه مهی مگرمچھ دی او هغه سره جامه خوزی استقراء تام پکې داخل شو استقراء تام دیته وائی چه کلیّ د تولو جزئیاتو تلاش وکړی نو نتیجه به ترینه صحیح وزی لکه ته وائے العنصر هواءٌ وماءٌ ونارٌ والارضُ وکل ماءٍ جوهرٌ وکل هواءٍ جوهرٌ کل نارٍ جوهرٌ وکل ارضٍ جوهرٌ نو نتیجه ئے دا راوه تله چه فکل عنصر جوهر ترجمه ئے عنصر اصل شی ته وائی کم شی لوئ وی نو د هغه د پاره اصول څلور(۴) دی اُس تمثیل ناقص ترینه خارج شو او تمثیل ناقص دیته وائی چه په

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



قیاس کښې کم علت وی نو هغه په دواړو مقدمو کښې نوی لکه ته وائې النیفی حرام والخمر حرام لسکرهِ نو نتیجه ترینه دا راوځی چه النیفی حرام ځکه چه په نیفو کښې علت د سکر نشته دے اوّلاً او په شرابو کښې علت د سکر شته نو شراب حرام شو او نیفی حرام نشو او نبیفی چه خرماء وغورزی وی په لوښی کښې دوه (۲) درے (۳) ورځے نو وتلی نو هغه حرام نه دے ځکه چه علت د سکر په کښې نشته او بل تمثیل تام دے او تمثیل تام دیته وائی چه دوه (۲) مقدمی راجمع کړے او علت هر مقدمی د پاره یو وی لکه لِواطِ حرام دے او وطی په حالت د حیض کښې هم دی علت ده دواړو اذی دے لکه دا قول د الله تعالیٰ شو : یسئلونك عن المحیض قل هو اذی فلا تقربو هُنَّ حتیٰ یطهرن علت په دواړو کښې اَذی ده لوائط کښې هم وطی کښې په حالت د حیض کښې او دا قول چه لِذاتها دے خارج شو پدے سره قیاس مساوات او قیاس مساوات دیته وائی چه معلق د محمول د صغریٰ موضوع وګرزی په کُبریٰ کښې لکه الانسان مساوٍ للمتعجب والمسعجبِ مساوٍ للناطق فالانسان مساوٍ للناطق نو دا نتیجه اَسی نه ورکی مګر په واسطی ده مقدمی اَجبی سره چه مساوی د مساوی ددغه شی سره نو انسان مساوی وو متعجب سره او متعجب مساوی وو د ناطق نو انسان مساوی د ناطق سره قول آخر ددینه نتیجه مراد ده او د

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



آخر نه معنى مغاير دے او شك نشته چه نتيجه مغاير وى له قياس نه ځکه چه دا جزئين دى په قياس او جز مغاير وى د کل نه

وهو اقترانيٌ كقولنا كل جسمٍ مركب وكل مركب محدث فكل جسم محدث دا قياس يا به اقترانى وى لكه قول مذكوره شو:

اما استثنائيٌ كقولنا ان كانت الشمس طالعة فالنهار موجود لكنّ النهار ليس بموجودٍ فالشمس ليست بطالعة يا به استثنائى وى لكه قول مذكوره شو او قياس اقترانى ديته وائى چه نتيجه او نقيض د نتيجى پکښ بهيتهِ مذكور نوى او قياس اقترانى ئے مقدم کړو په استثنائى يوازے جارى کيګى په شرطى کښے او بل ددے وجے نه ئے مقدم کړو چه په تعريف ددے کښے عدم مأخوذ دے او عدم محمول دے په عدم اصلى باندى او عدم اصلى مقدم دے په عدم عرض باندے او دا مسمّے کړه په اقترانى سره ځکه چه په دے کښ افتران راغلے دے ده اکبر ده اوسط سره او ده اوسط راغلے دے ده اصغر سره او قياس استثنائى ديته وائى چه پديکښ نتيجه بانقيض ده نتيجى بهيئة مذكور وى اومسمى کړے شو دے په قياس استثنائى سره ځکه چه دے مشتمل دے په حرف استثناء باندى چه لكِنّ دے ده دوى په اصطلاح کښ اګر که د نحات په نيز باندى لكِنّ حرف استثناء ندے بلكه مشابهه دے دَ حرف استثنأ سره په تغير د مابعد کښ ده ماقبل نه کښوك

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



دا اعتراض اوکی چه قیاس استثنائی تعریف مغایر شه له تعریف ده مطلق قیاس نه ځکه چه په هغې کښې قول آخر عبارة ؤ له نتیجې نه او آخر معنی مغائرة ؤ او په قیاس استثنائیه کښ نتیجه مغائر نشته ځکه چه ته وائی چه نتیجه یا نقیض ده نتیجې بهیئته پکښ مذکور وی.

جواب ترینه دادے چه قیاس استثنائی مشتمل دے په شرطی باندی او شرطئ په طرفین کښ حکم نوی او په نتیجه کښ حکم وی یا په ایجاب سره یا په سلب سره لکه پدی مثال مذکوره کښ چه فاالشمس لیست بطالعة دی دا نتیجه ده او حکم پدی په سلب سره دے پس ایزده کړه دا خبره که په قیاس استثنائی کښ شرط او جزاء مساوی ؤ نو څلور قسمه نتیجه به را اوزی که استثناء ده عین مقدم نه ؤ نو نتیجه به عین تالی وی لکه ان کانت الشمس طالعة فاالنهار موجود لکن الشمس طالعة فاالنهار موجودٌ که استثناء ده عین تالی وه نو نتیجه به عین مقدم اوزی لکه ان کانت الشمس طالعة فاالنهار موجود لکن النهار موجود فاالشمس طالعة که استثناء ده نقیض ده مقدم وه نو نتیجه به نقیض ده تالی رازی لکه ان کانت الشمس طالعة فاالنهار موجود لکن الشمس لیست بطالعة فاالنهار لیس بموجودٍ که استثناء ده نقیض ده تالی نوه نو نتیجه به نقیض ده مقدم راوزی لکه ان کانت الشمس طالعة فاالنهار

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



موجودٌ لكن النهار ليس بموجود فاالشمس ليست بطالعة كه تالي عام وه او مقدم خاص ؤ نو دوه نتيجي به پكي صحيح ؤزي او دوه نتيجي به پكښ غلط ؤزي لكه ان كان زيدٌ انساناً كان حيوانا كه استثناء ده عين مقدم وه نو نتيجه به عين تالي ؤزي لكه لكن زيداً انسان فهو حيوان ځكه چه ثبوت ده خاص مستلزم وي ثبوت ده عام لره كه استثناء نقيض ده مقدم ؤ نو نتيجه به نقيض ده تالي نوي ځكه چه رفعه د خاص مستلزم نده رفعه د عام لره او كه استثناء نقيض ده تالي ؤ نو نتيجه به نقيض ده مقدم اوزي ځكه چه رفعه ده عام مستلزم ده رفعه ده خاص لره او كه استثناء ده عين تالي وؤ نو نتيجه لازم نده په عين مقدم ځكه چه وجود دَ عام مستلزم ندے وجوذ د خاص لره ځكه چه عام دي په ضمن ده بل فرد كښ وي قوله والمكرر بين مقدمتي القياس فصاعدً يسمّٰى حدّ اوسط مكرر په مابين ده دوه مقدمتين ده قياس يا زياتي ده دوه مقدمتين نه دا مسمّٰى كوليشي په حد اوسط سره كځوك دا اعتراض اوكړي چه دا قول ده ماتن چه والمكرر بين مقدمتي القياس دے دا غلط دے ځكه چه مكرر په مابين ده مقدمتين ده قياس كښ د احد اوسط نشي كيدے ځكه چه دا جزء ده مقدمتين ده قياس دے او عين مقدم ندے.

جوابونه ترينه دوه (۲) دي يو دادے چه دا عبارة په حذف ده

Scanned with CamScanner

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



مضاف سره دے چه هغه جز دے په مابین ده بین او ده مقدمتینو کښے نو شو تقدیر ده عبارة دارنگی چه بین جزء مقدمتيئ القياس. او دویم جواب دادے چه مراد په مقدمتین سره طرفی ده قیاس دی ذکر ده کل مراد ترینه جزء دے او کخوك اعتراض اوکړی چه دخول ده فاء په صاعداً باندی چه حال مفرد دی دخول ده فاء پدی باندی صحیح ندے. جواب ترینه دادے چه دا حال ده ضمیر مستکنه نه په عامل مقدره کښ نو شه تقدیر ده عبارة دارنگه شه چه فیزاد صاعداً نو فاء داخل شه په مضارع باندی او هغه حمل دے او وجه ده تسمیه ده حد اوسط په حد اوسط سره داده چه دا مکرر واسطه واقع شویدے په مابین ده موضوع ده نتیجی او محمول ده نتیجه کښ راغلے دے ځکه ورته حد اوسط وائی.

قوله وموضوع المطلوب يسمّى حدّا اصغر او موضوع ده نتیجی دا مسمّی کولیشی په حد اصغر سره ځکه چه غالبا افراد ده دی لګ دی لکه کل انسان حیوان و کل حیوان جسمٍ فکل انسان جسم ځکه چه افراد دَ انسان کم دی او افراد ده جسم ډیر دی. قوله فمحمول يسمّى حدّا اكبر او محمول ده نتیجی مسمّی کولیشی په حد اکبر سره ځکه چه ده دی افراد غالباً ډیر دی او غالباً قید ځکه اګدی چه کله کله افراد ده موضوع او محمول یو شان ته

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


وی لکه کل انسان ناطق و کل ناطق متعجب نو تیجه دا شوه فکل انسان متعجب افراد دَ انسان او ده متعجب دواړه یو شان دی او پدی اوسط او اصغر او اکبر کښ استعاره مصرحه ده په شان ده رائیت اسداً یرمی باندی ځکه چه ذکر ده مشبه به دے او مراد ترینه مشبه دے ځکه چه مکرر افراد لګه وی او که ډیر وی دا مشبا به کړے دے ده قلیل الاجزاؤ سره او ده کثیرالاجزاء سره او که څوك دا اعتراض اوکړی چه اوسط او اصغر او اکبر صیغه اسم تفضیل دی او اسم تفضیل مستعملیګی په یو ده امور ثلاثو سره چه الف لام او اضافت او من دے او ده اولی مستعملیګی په یو ده وجود ثلاثو سره ځکه چه غرض ده اسم تفضیل نه زیادة ده موصوف خپل دے په غیر باندی او دا معنی حاصلیګی په یو ده وجوه وجوه ثلاثو سره په اضافت او په من کښ خرنګه ده دا زیادت لکه زید افضل الناس زید ډیر غوره دے د ه په تولو نه خلقو نه باندی او مثال ده من لکه زیدٌ افضل من عمرٍ نو زید ډیر غوره دے له عمر نه او په الف لام کښ اشاره کولیشی مفضل علیه ته لکه زید ان الافضل شو نو پدی الف لام کښ اشاره هغه مفضل علیه ته چه عمر دے یا بکر دے. جواب ترینه دوه (۲) دی دا ددے دواړه د اسم تفضیل نه وتلی دی او علم ګرزیدلی دی او قرینه په اعلامو باندے لفظ دَ یسمّے دے. او دویم (۲) جواب

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


ترینه دادے چه دا درے واړه مستعمل دی په من مقدره سره په شان د الله اکبر دے لکه الله اکبر مستعمل وو په من مقدره سره نو دوی مستعمل شو په من مقدره سره څکه:

وموضوع المطلوب یسمیٰ حدًّ احقر ومحموله یسمی حدالاکبر والمقدمۃ التی فیها الاصفر یسمّی بالصغریٰ مقدمه هغه چا پدی کښې اصغر وی دا مسمّی کولیشی په صغرٰی سره لوجه د اشتمال ددینه په اصغر باندی والتِی فیها الاکبر یسمّے کبرای او مقدمه هغه چه په دیکښې اکبر وی نو دا مسمّے کولیشی په کبرٰی سره او دا هم اسم تفضیل مؤنثه ده او اعتراض پدے باندے هم هغه وارد دے چه هغه په اسم اسم تفضیل مذکر باندے وو او جوابین ترینه هم هغه دے چه جوابین د اعتراض د اسم تفضیل مذکر نه وو وهیئیت التالیف من الصغرٰی والکبرٰی یسمّی شکلا هیئت ترکیبی له صغرٰی او د کبرٰی نه دا مَسمّی کولیشی په شکل سره او پدے کښے هم اسعار مصرّحه ده څکه چه تشبیه ورکړے ده د معقول د مخصوص سره څکه چه ده شکل معنیٰ داده چه یو میدان دے چه احاطه کړی پدے باندے حدّ واحده لکه شکل کرّوی شی یا احاطه کړی پدی باندے لکه حدّین لکه نصف د کرۂ شو یا احاطه کړی پدے باندے حدودو ثلٰثو لکه شکل مثلث شو یا احاطه کړی پدے باندے څلور خطوط لکه شکل

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



مربع شو او شك نشته دے پدے شکل باندے چه په دۀ باندے احاطه کړے ده موضوع د صغرٰی او محمول د کبرٰی قوله ولاشکال اربعة اشکال څلور دی که څوك دا اعتراض وکړی چه وضع د اسم ظاهر چه په والاشکالِ دے په ځائے د ضمیر باندے چه هو دے ولی اوکړه سره ده دی خبری نه چه مخکښ یو شئ په اسم ظاهر سره ذکر شی نو ثانیاً په ضمیر سره ذکر کیګی.

جواب ترینه دادے چه دا جنس دے په اعتبارہ ده انواع سره دے ده دی وجی نه جمعه راوړی ده او قرینه پدی باندی لفظ ده اربعة دے او وجه ده حصر پدی څلورو کښ داده لان الحد الاوسط ان کان محمولاً فی الصغرٰی وموضوعاً فی الکبری وهوالشکل الاول که حد اوسط محمول ؤو په صغری کښ او موضوع ؤو په کبرٰی کښ نو دیته شکل اول ویلے شی او که څوك اعتراض اوکړی چه ابوعلی سینا وائی چه دا شکل اول صحیح ندے ځکه چه حد اوسط پدیکښ مکرر ندے ځکه چه محمول دی په صغرٰی کښ او دا معنی وصفی ده او موضوع وی په کبرٰی او موضوع ذات وی او وصف او ذات څرنګه متحد شی او حد اوسط تقاضا کوی ده اتحاد ځکه چه اول مکرر دے په ثانی سره.

جواب ترینه دادے چه دَ محمول نه هم تعبیر کولیشی په ذات سره او ده موضوع نه هم تعبیر کولیشی په وصف سره لکه زید

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



قائم نه ده زید نه تعبیر کولیشی په مسمّی باالزید سره او ده قائم نه تعبیر کولیشی په ذات من له القیام سره وان کان محمولاً فیهما فهو الشکل الثانی کچرته احد اوسط محمول ؤ په دواړو کښې نو دا شکل ثانی دے لکه کل انسان حیوان ولاشیٔ من الحجر بحیوان فلا شیٔ من الانسان بحجر الخ کچرته قوله وان کان موضوعاً فیهما فهو الشکل الثالث کچرته حد اوسط موضوع په دواړو کښې نو دا شکل ثالث دے لکه کل انسان حیوان و کل انسان ناطق فبعض الحیوان ناطق وان کان موضوعاً فی الصغری ومحمولاً فی الکبریٰ وهو الشکل الرابع الخ که حد اوسط موضوع ؤ په صغرٰی کښې او محمول ؤ په کبرٰی کښې نو دا شکل رابع دے لکه کل انسان حیوان ولا شیٔ من الانسان بحجر نتیجه دا را اوته چه لاشیٔ من الحیوان بحجرٍ کڅوك دا اعتراض اوکی چه دریشکلونه نور هم شته لکه متعلق ده محمول دَ صغری وګرزی په کبرٰی کښې لکه کل انسان مساوٍ للناطق والناطق مساوٍ للمتعجب فاالانسان مساوٍ للمتعجب نو حصر په څلورو کښې صحیح نشو. جواب ترینه دادے چه بحث څمونګه په اشکالو معتبرو کښې دے او دغه معتبر ندی ځکه چه دا مخالف دی ده تعریف ده قیاس نه چه هغه قول لذاتها دا نتیجه ورکی په واسطی ده امر مساوی سره نه لذاتها او شکل اوّل مقدم کړه په دی دری واړو باندی ځکه چه په نظم

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


طبعي باندي دي او نظم طبعي داده چه پدیکښ انتقال دے ده
اکبر نه اوسط ته او دا وسط نه اصغر ته او بل ده دی حاجت رد
کولو ته نشته او باقي اشکال چه نتیجه ورکوي نو هله ورکوي
چه شکل اول ته رد شي او شکل ثاني مقدم کړه په شکل ثالث
باندي ځکه چه دا مشابه دے ده شکل اول سره په اشرف ده
مقدمتین کښ چه هغه صغرٰی ده او دا صغرٰی ولي اشرف دے دَ
مقدمتین نه ځکه چه دا مشتمل دے په اصغر باندي او اصغر
ولي اشرف دے ځکه چه ده لره بل شے ثابت دے چه محمول
دے نو دے اصل شو او شکل ثالث مقدم کړه په شکل رابع
باندي ځکه چه دا مشابه دے ده شکل اول سره په کبرٰی کښ
هلته حد اوسط موضوع ؤ نو دلته هم موضوع شه په کبرٰی کښ
او شکل رابع ده تولو نه روسته کړه ځکه چه دا ده شکل اول سره
برابر نه دے نه په صغرٰی کښ او نه په کبرٰی ځکه چه هلته په
شکل اول کښ ده صغرٰی کښ حد اوسط محمول دے او په شکل
رابع کښ حد اوسط موضوع دے او ده کبرٰی ده شکل اول سره هم
مناسبت نشته ځکه چه په شکل اول کښ حداوسط موضوع
دے په کبرٰی او په شکل رابع محمول دے او بل شکل رابع
ځکه تولو نه روسته کړه چه دا دري اشکال مخکیني موافق دی ده
قرآن سره او شکل رابع ندے موافق ده قرآن سره هر چه دے

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



شکل اول چه موافق دے ده قرآن سره لکه ان الله یأتی باالشمس من المشرق فأت بها من المغرب نو ده دی نه شکل اول دا را اووته چه نمرود خدائی نشی کیدے ځکه چه دے قادر ندے په راتلو ده شمس سره او هر هغه څوك چه قادر نوی په راتلو ده شمس سره ده مغرب نه نو هغه خدائی نشی جوړیدے نو نمرود خدائی نشو او شکل ثانی موافق دے ده قرآن شه چه هغه دا قول ده خدائی دے فلمّارایٰ کوکباً قال هذا رَبِّی فلما افل قال لاحب الافلین او ده دینه شکل ثانی دا را اووته چه کوکب خدائی نشی جوړیدے ځکه چه دا فنا کیگی او نشته دے یو شئے ده هغه نه چه هغه الله تعالیٰ نوی او فانی دی هم نشی بلکه فانی کیگی نو کوکب خدائی نشو . او هر چه شکل ثالث دا موافق دے ده قرآن شو سره لکه دا قول یهودو شه چه ما انزل الله علی بشرٍ من شئٌ قل من انزل الکتاب الذی جاء موسیٰ نوراً وهداً للناس نو ده دینه شکل ثالث دا را اووته چه موسیٰ علیه الصلوٰة والسلام بشر دے او موسیٰ علیه السلام باندی نازل شوے دے پده باندی کتاب نو نتیجه ترینه دا را اووته بعض بشر نازل شوے دے پدی باندی کتاب نو دا موجبه جزئیه ده او موجبه جزئیه نقیض دَ سالبی کلیئ وی او سالبه کلیه ده یهودو څه ؤ چه ما انزل الله علی بشرٍ من شئ او موجبه جزئیه دوی منی نو ده دوی مدعه چه سالبه کلیه ؤ نو هغه غلط شه ولی که

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



هغه تهيك شي نو اجتماع ده نقيضيو به راشي.

والثاني يرتدّ الى الاول بعكس الكبرىٰ او شكل ثاني رد .. شي اول ته په عكس دَ كبرٰى ځكه چه صغرى ده شكل ثاني ده صغرى ده شكل اول سره برابر دے ځكه چه حد اوسط په شكل اول كښ محمول وى په صغرى كښ او په شكل ثاني هم حد اوسط محمول وى په صغرى كښ او كبرى ده شكل ثاني ده شكل اول نه مخالف دے ځكه چه حد اوسط په شكل اول كښ موضوع دى په كبرٰى كښ په شكل ثاني حدّ اوسط محمول دے په كبرٰى كښ نو كه په كبرٰى د شكل ثاني كښ عكس ونكړى شي چه هغه محمول ځائي د موضوع ته ونه ونيسى او موضوع ځائي د محمول ته ونيسى نو مخالفت به راشي ده شكل ثاني ده شكل اول.

والثالث يرتد اليه بعكس الصغرىٰ او شكل ثالث رد كوليشى شكل اول ته په عكس ده صغرٰى سره ځكه چه شكل ثالث ده شكل اول سره برابر دے په كبرٰى كښ ځكه چه حداوسط په شكل اول كښ موضوع ؤ په كبرٰى كښ او ده شكل ثالث حد اوسط هم موضوع وه په كبرٰى كښ او ده شكل اول او ده شكل ثالث اتفاق راغلے په كبرٰى كښ نو كه صغرى ده شكل ثالث كښ عكس ؤنكړے شي چه موضوع محمول ته او نه رسي نو مخالفت به راشي ده شكل

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


ثالث ده شکل اول نه نونتیجه به ورنکړی.

قوله والرابع اليه بعكس الترتيب وبعكس المقدمتين او شکل رابع رد کولیشی شکل اول ته په عکس ده ترتیب سره پدی شان سره چه صغرٰی کبری ته ورسی او کبریٰ ځائی ده صغری ته ورسی نو شکل اول به ترینه جوړ شوی یا په عکس ده مقدمتین سره د کولیشی شکل اول ته پدی شان چه په شکل رابع کښ په صغری کښ موضوع محمول کړی او محمول موضوع کړی او په کبریٰ کښ هم دا طریقه اوکی چه موضوع محمول کی او محمول موضوع کی. وبدهي الانتاج وهوالاول او ظاهر نتیجه راله شکل اول دے ځکه چه دا په نظم طبعی باندی دے ولی په نظم طبعی باندی ځکه چه پدی کښ انتقال ده اکبر نه دے اوسط ته او ده اوسط نه دے اصغر ته قوله والذی له عقل سلیم وطبع مستقیم لا یحتاج الی رد الثانی الی الاول او هغه ثوك چه هغه لره عقل سلیم وی ده کدورات نه او طبعه برابر وی محتاج به نوی دغه سرے رد کول ده شکل ثانی شکل اول ته او عقل وائی دیته چه یو جوهر دے چه مجرد وی دَ مادی نه او تعلق وی ده بدن سره تعلق ده تدبیر او ده تصرف او طبعه وائی دیته چه یو قوة عدیمة الشعور دے چه ده شان دَدینه حرکت وی په متحرك کښ لکه چه په انسان کښ یو قوة دے او ده هغه ده شان سره حرکت دے په انسان کښ یاده شان

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


ده دینه سکون وی په ساکن کښې لکه ارضه شو چه هغه یو قوة دے چه دَ شان ده هغه سکون دے په ارضی کښې اوس شکل ثانی ولی محتاج ندے رد کولو ده شکل اول ته ځکه چه شکل ثانی مشابه دے ده شکل اول سره په اشرف ده مقدمتین کښې چه هغه صغرٰی دے.

قوله وانما ینتبح الثانی عند اختلاف مقدمتیه باالایجاب والسلب وکلیة الکبری یقیناً نتیجه ورکوی شکل ثانی په نیز ده اختلاف ده مقدمتین باندی په ایجاب او په سلب سره او په کلیت ده کبری سره دلیل دادے ولی که دواړه موجبئ شی نو عقم دَ قیاس به راشی کله به نتیجه موجبه رازی په اعتبار ده صحت سره لکه ته وائی کل انسان حیوان وکل ناطق حیوان حیوان حیوان ډِلری کړه نو کل انسان ناطق شو او که ده کبری په موضوع کښې کل فرسٍ کیدی نو داسی به وائی چه کل انسان حیوان وکلّ فرسٍ حیوانٌ نو نتیجه به ترینه سالبه اوزی چه لاشی من الانسان بفرسٍ او دا ندے مګر عقم دَ قیاس دی چه نتیجه په اول قیاس کښې موجبه راغله او په ثانی کښې سالبه راغله او داندے مګر شند والی ده قیاس دے او عقم ده قیاس دے که دواړه مقدمتین سالبی شی نو بیا به نتیجه کله موجبه را اوزی او کله به سالبه ؤزی لکه لاشئ من الانسان بحجر ولاشئ من الناطق بحجر نو نتیجه دلته موجبه را

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



اوته چه هغه کل انسان ناطق او که ته اوس په ځائی ده ناطق فرس کیدی او داسی وائی چه لاشئ من الانسان بحجر ولاشئ من الفرس بحجر نو نتیجه ترینه دا را اوته چه لاشئ من الانسان بفرس نو په اول ده قیاس کښ نتیجه موجبه راوتله او په ثانی کښ سالبه راوتله او دا ندے مګر شنه والے ده قیاس دے او که کلیت ده کبری شرط نشی نو بیا اختلاف په نتیجه کښ به راشی کله به موجبه وی او کله به سالبه وی لکه کل انسان حیوان وبعض الناطق حیوان نو حیوان ترینه لری که نو بعض الانسان ناطق وائی او که د ناطق په ځائی باندی فرس کیدی او داسی وائی چه کل انسان حیوان او بعض الفرس حیوان او حیوان ترینه لری که نو بعض الانسان لیس بفرس وائی والی په نو په شکل اول کښ نتیجه موجبه وه او په ثانی کښ سالبه شه او دا ندے مګر عقم ده قیاس دے او که څوك دا اعتراض وکړی پدی قول دَ الله تعالیٰ کښ چه ان خیر من استئجرت القوی الامین نو ده دینه شکل ثانی هغه دادے چه موسیٰ علیه السلام قوی امین دی او هر هغه څوك چه ده هغه حال داوی نو هغه قوی امین وی نو موسیٰ علیه السلام قوی امین شو او پدی شکل ثانی کښ اختلاف ده مقدمتین دے په ایجاب او سلب سره تا شرط کړے ؤ او دلته اختلاف رانغے په ایجاب او په سلب

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



سره بلکه دا دواړه موجبی دی. جواب ترینه دادے چه اختلاف په ایجاب سره او په سلب سره دا ډیر دے او کله چه اختلاف رانشی نو هغه قلیل دے او قلیل په حکم ده عدم کښ وی.

الشکل الاول الذی جعل معیاراً للعلوم فورده هٰهُنا لیجعل دستوراً ومیزاناً نتیج منها المطالب کلّها الخ شکل اول هغه دے چه ګرزولے شویدے دے معیار د پاره ده علومو او پدیکښ استعاره مصرّحه ده چه هغه ذکر ده مشبه به دے او مراد ترینه مشبّه ده او مشبه یکی شکل اول دے او مشبه پدیکښ تله یعنی میزان دے لکه څرنګه په تلی سره موذون معلومیګی دارنګه پدی سره څلور علوم معلومیګی چه هغه علم دے په موجبه کلیه او په سالبه کلیه او په موجبه جزئیه او په سالبه جزئیه نو مونګه راوړل دے شکل لره پدی مقام کښ چه بحث ده منطق دے نه بحث دَ ریاضی دے ده دی د پاره چه اوګرزولے شی دا اصل ځکه چه نور اشکال چه نتیجه ورکی نوردکیګی دے اصل ته چه شکل اول دے او اوګرزولے شی دا میزان یعنی تله لکه څرنګه مخکښ استعاره مصرحه ؤه نو پدی لفظ کښ هم استعاره مصرحه ده ځکه چه پدی کښ هم شکل اول مشابه کړے دے دَتلی سره لکه چه په تله سره شے معلومیګی او پدی سره هم دغه مخکنی علوم معلومیګی ینتج منه چه حاصلیګی ده دی شکل اول نه

Scanned with CamScanner



Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



مطالب کلها مطالب ټول چه هغه څلور قسمه دی نتیجه ده اوس

که څوك اعتراض اوکړی چه شکل اول به وی او نتیجه صحیح

نوی لکه ته وائی شریك الباری موجود فی الذهن و کل ما هو

موجود فی الذهن فهو موجودٌ فی الخارج هر هغه شیٔ چه موجود

وی په ذهن کښ نو هغه به موجود وی په خارج کښ نو شریك

الباری موجود شو په خارج کښ لکن جواب ترینه دادے چه

اوسط په صغری او کبری مکرر ندے ځکه چه په صغری کښ

حداوسط په ذهن کښ دے او په کبری کښ حداوسط په خارج

کښ دے او که څوك بل اعتراض اوکړی چه شکل اول به

موجود وی او نتیجه به غلطه وی لکه دا قول ستا شه الطلاق

موقوف علی النکاح والنکاح موقوف علی التراضی الطرفین نو

نتیجه ترینه دا ؤوتله چه طلاق موقوف دی په تراضی ده طرفین

پوری او دا نتیجه غلطه ده ځکه چه ښځی لره دخل په طلاقو کښ

نشته ځکه طلاق په الفاظ ده زوج باندی بنأ دی. جواب ترینه

دادے چه دا قیاس مساوی دے چه متعلق ده محمول ده صغری

تاکرزول دے موضوع په کبری کښ قیاس مساوی خارج دے له

تعریف ده قیاس نه ځکه چه په قیاس کښ دا قول چه لذاتها دے

پدی سره قیاس مساوی وتلے دے. شرطاً ونیتا جُهها اِجاب الصغری

و کلیة الکبریٰ شرط ده نتیجی ورکولو ده شکل اول اثبات ده

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



صغریٰ دے او کلیت ده کبریٰ دے ولی که اجاب ده صغری ونشی نو قیاس به شنډ شی او کله به نتیجه موجبه ورکوی او کله به سالبه ورکوی لکه لاشی من الانسان بحجر ولا شیٔ من الحجر بناطق نو حق نتیجه پدی موجبه ده چه هغه کل انسان ناطق دے اوس که ته دا کبری بدل کړه او داسی اووائی چه لاشیٔ من الحجر بفرس نو حق نتیجه پدی کښ سالبه ده چه لاشیٔ من الانسان بفرسٍ دی او که کلیت ده کبریٰ شرط نشی او جزئیه شی لکه دا قول ستا شه کل انسان حیوان او بعض الحیوان ناطق نو حقه نتیجه پدی کښ موجبه ده چه هغه بعض الا انسان ناطق دے اوس که ته دا کبریٰ بدل کی او ده بعض الحیوان ناطق ناطق په ځائے باندی بعض الحیوان فرس کیدی نو حقه نتیجه به سالبه وی چه هغه بعض الانسان بس بفرس دے.

قوله وضروبه المنتجة اربعة او اقسام ده شکل اول په اعتبار ده تتبع استقراء سره چه ورکونکی دی نتجة لره هغه څلور دی نه په اعتبار ده عقل سره ځکه چه په اعتبار دَ عقل سره شپاړس (۱٦) دی هغه شپاړس دادی چه صغری موجبه کلیه او صغری موجبه جزئیه او صغری سالبه کلیه او صغری سالبه جزئیه او کبری هم موجبه کلیه او موجبه جزئیه او سالبه کلیه او سالبه جزئیه او څلور چه ضرب کړی په څلورو کښ نو حاصل ده ضرب نه دَ

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



څلورو نه په څلورو کښې نو شپاړس اقسام ترينه اوزي ځکه چه صغرٰى موجبه او كبرايات څلور دي او هغه شپاړس دادے چه صغرٰى موجبه كليه او كبرايات چه موجبه كليه ده او موجبه جزئيه ده او سالبه كليه ده او سالبه جزئيه ده او صغرى سالبه كليه او كبرايات دغه څلور مذكوره نو دا اته (۸) شو او صغرى موجبه جزئيه او كبرايات دغه څلور مذكوره نو دولس شو او صغرى سالبه جزئيه اوكبرايات دغه څلور مذكوره نو شپاړس شو او څلور چه وو هئ په څلورو کښې نو حاصليگى د ضرب د څلورونه په څلورو کښے شپاړس+ او ضرب په لغت کښے وهلو ته وائى او په اصطلاح کښے تكثير د اجزاؤ د مضروب دے په قدر د تمامهِ اجزاء د مضروب فيه باندے اوس هر كله چه په شكل اوّل كښے ايجاب د صغرٰى شرط شو كه صغرٰى سالبه كليه شى او كبرٰيات دغه څلور واړه شى نو دا ساقط شو او كه صغرٰى سالبه جزئيه وى نو دا څلور كبرٰيات بيا ساقط شو نو اته (۸) ساقط شو هر كله چه كليت د كبرٰى شرط شو نو كه كبرٰى موجبه جزئيه وى يا سالبه جزئيه وى نو صغراعاتِ څلور واړه ساقط شو نو دولس ساقط شو نو باقى پاتى شو څلور هغه دادى چه الضرَب، اوّل ضرب اوّل چه صغرٰى پكئ موجبه كليه وى او كبرٰى په كښے هم موجبه كليه وى لكه مثال دا شو كل جسمٍ مؤلفٌ و كل مؤلفٌ

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



محدثٍ فکل جسمٍ محدث والثانی او ضرب ثانی چه صغرٰی موجبه کلیه وی او کبرٰی سالبه کلیه وی مثال دادے کل جسم مؤلف والاشیٔ من المولف بقدیم نو نتیجه ئے ترینه دا راوتله چه فلا شی من الجسم بقدیم والثالث او قسم ثالث چه صغرٰی موجبه جزئیه وی او کبرٰی موجب کلیه وی نو دا هغی مثال دادے چه بعض الجسم محدث. والرّابع اوقسم رابع چه صغرٰی په کښے موجبه جزئیه وی او کبرٰی په کښے سالبه کلیه وی نو د هغے مثال دادے بعضی مؤلف ولاشیٔ من المؤلف بقدیم نو نتیجه ئے دا راوتله چه بعض الجسم جسم بقدیم دا ځلور اقسام په کښے صحیح شو او دولس غلط شو تأمل ۱۲.

**والقیاس اقترانیّ** + اما من حملیتین کما مر او قیاس اقترانی یا به مرکب وی لحملیتین نه مثال دد ے مخکښے تیر شوے دے چه هغه اقسام د شکل اوَل ځلور وو وامامن المتصلتین یا به مرکب وی د متصلتین نه او قیاس حملیتین نه د مخکښے کړولـه په د هغه قیاس نه چه مرکب وی د شرطین متصلتین نه ځکه اجزاء د حملیتو د اجزء دے دا جزء د شرطیتونه او جزء مقدم وی په کل باندے طبعاً نو مقدم شو ذکراً ددے د پاره چه موافق شی ذکر د طبعی سره راشی. کقولنا

ان کانت الشمس طالعة فانهار موجود و کل ماکان النهار موجودا

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


فالارض مضيئة ينتج ان كانت الشمس طالعة فالارض مضيئة لکه قول زمونږه شو که چرته شمس طالع وی نو نهار به موجود وی او په هر وقت د اوقات کښې چه نهار موجود وی نو زمکه به روخانه وی نتيجه ترینه دا راوتله که چرته نور ختونکی وی نو زمکه به روخانه وی لکه څرنګې په قیاس د حملیو کښې څلور اقسام صحيح وو نو په قیاس د متصلو کښې هم څلور اقسام صحيح وی که حدّ د اوسط تالي وه په صغرٰی کښې او مقدم په کبرٰی کښې دیته شکل اول ویلے کیګی او که تالي وو په دواړو کښې دیته شکل ثاني ویلی کیګی او که مقدم وو په دواړو کښې دیته به شکل ثالث ویلی کیګی او که مقدم وو په صغرٰی کښې او تالي وو په کبرٰی کښې دیته به شکل رابع ویلی کیګی مثال د شکل اوّل متن دے او مثال د شکل ثاني ان كانت الشمس طالعة فالنهار موجود دی.

وكل ماكانت الشمس طالعة فالنهار موجود او مثال د شکل ثالثه ان كانت الشمس طالعة فالنهار موجود وكل ما كانت الشمس طالعة فالنهار موجود او مثال د شکل ثالث ان كانت الشمس طالعة فالنهار موجود وكل ماكان النهار موجوداً فالشمس طالعة واما من منفصلتين كقولنا كل عدد اما زوج او فرد وكل زوج فهو اما زوج

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



اوزوج الفرد ینتج کل عدد فهو ما فرد او زوج ازوج اوزوج الفرد یا به دا قیاس مرکب وی له منفصلتین نه لکه دا څمونګه شو چه هر عدد یا به زوج وی یا به فرد وی او هر زوج به یا زوج الزوج وی او یا به زوج الفرد وی نو نتیجه دا را اووتله چه هر عدد به یا فرد وی او یا به زوج الزوج وی او یا به زوج الفرد وی زوج منقسم متساوین ته وائی لکه دو شه او فرد غیر منقسم متساوین ته وائی لکه دری شه او که ته وائی چه دری منقسم دی متساوین ته چه یو نیم یو نیم دے نو کسر ده دوی په نیز معتبر ندے اوزوج الزوج دیته وائی چه انحلال تر آخر پوری تامیګی په زوج لکه اته (۸) شو ده آتو نیم څلور دی او هغه هم زوج دی او ده څلور نیم دوه دی او هغه هم زوج دی اوزوج الفرد دیته وائی چه انحلال پوری تامیګی په فرد سره لکه شپګ شو ده شپګو نیم دری دی او هغه فرد دے او ده دریو نصف یو نیم دے او هغه هم فرد دے پدی کښ چه څلور اشکال جوړیګی پدی شان سره چه حد اوسط به محمول وی په منفصلی اولیٰ کښ او موضوع به وی په منفصلی ثانی کښ لکه مثال ده متن شه او شکل ثانی دیته وائی چه محمول وی په دواړو کښ لکه کل عدد اما زوج او فرد وکل عدد زوج فهو اما زوج الزوج اوزوج

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



الفرد دا مثال ده شکل ثاني او مثال ده شکل ثالث چه حدّ اوسط موضوع وی په دواړو منفصلو کښې لکه کل زوج اما زوج الزوج او زوج الفرد وكل زوج فهو اما زوج الزوج او زوج الفرد او دا شان ده شکل ثالث شو او مثال ده شکل رابع چه حد اوسط موضوع وی په منفصله اولیٰ کښې او محمول وی په منفصله ثاني کښې لکه دا قول څمونګه شه چه کل زوج اما زوج الزوج او زوج الفرد وكل عدد اما زوج او زوج الزوج او زوج الفرد دا مثال ده شکل رابع شو .

قوله واما من حملية ومتصلة كقولنا كلما كان هذا انساناً فهو حيوان وكل حيوان فهو جسم ينتج كل ما كان هذا انسان فهو جسم يا به دا قياس اقتراني مركب وى ده حملی او ده متصلی نه لکه قول مذکوره شه پدی کښې هم اشکال اربعه دی چه حداوسط محمول وی په تالی ده صغرٰی کښې او موضوع وی په حملیه کښې نو دا شکل اول شه لکه مثال دَ متن شه او که حد اوسط محمول وی په جزا ده شرطیه کښې او محمول ؤ په حملیه کښې نو دا شکل ثاني دے لکه كلّ ماكان هذا انسانٌ فهو حيوان وكل ماكان ناطقٌ فهو حيوان او که حد اوسط موضوع ؤ په جزأ ده شرطیه کښې او که موضوع ؤ په حملیه کښې نو دا شکل ثالث شو لکه كلما كان هذا

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



انسان نو فالانسان حیوان وکل انسان حیوان نو نتیجه ترینه دا را اوتله کان انسانًا فهو حیوان او که حد اوسط موضوع وه په جزا ده شرطیه کښ او محمول ؤ په حملیه کښ نو دا شکل رابع لکه کلّ ماکان هذا انساناً نو فالانسان حیوان وکل ناطق انسان نو نتیجه دا را اوتله کل ماکان هذا انساناً فهو ناطق.

قوله واما من حملية منفصلة كقولنا كل عددٍ اما فردٌ او زوجٌ وكل زوج فهو منقسم بمساويين ينتج كل عدد فهو اما فرد واما منقسم لمتساوين

یا به دا قیاس اقترانی مرکب وی ده حملی نه او ده منفصلی نه لکه قول مذکوره شه ده هغه قول مذکوره معنی داده چه هر عدد یا به فرد وی یا به زوج وی او هر زوج منقسم وی مستاوین ته نو نتیجه ترینه دا را اووتله چه هر عدد یا به فرد وی یا به منقسم وی متساویین ته او پدی کښ هم اشکال اربعه دی او که حد اوسط جزء ثانی د منفصلی وی او موضوع ده حملی وی نو دا شکل اول شو لکه مثال ده متن شه او که حد اوسط محمول ؤ ده جز ثانی ده منفصلی نه ؤ او محمول ؤه ده حملیه نو دا شکل ثانی شه لکه دا قول څمونګه شه چه کل عدد اما فرد واما زوجٌ وکل اربعة زوج نو نتیجه ترینه دا اوتله چه کل عددٍ اما فرد او اربعة او که حد اوسط موضوع ده جزء اول ده منفصلی او موضوع وه ده

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



حمیلی نو دا شکل ثالث شه لکه کل عدد اما فرد او زوج وکل فرد فهو لیس بمنقسم الی متساویین نو نتیجه دا را اووتله چه کل عدد اما زوجٌ اولیس بمنقسم بمتساویین او که حد اوسط جزء اول ده منفصلی نه ؤ او محمول د حملی نه ؤ نو دا شکل رابع لکه دا قول ځمونږ شه کل عدد اما فرد او زوج وکل فرد فهو لیس بمنقسم بمتساویین نو نتیجه ترینه دا را اووتله چه کل عدد اما زوج او هو لیس بمنقسم بمتساویین واما من متصلة ومنفصلة کقولنا کل ما کان هذا انساناً فهو حیوان وکلحیوان فهو اما ابیض او اسود ینتج کلما کان هذا انساناً فهو اما ابیض او اسود : یا به دا قیاس اقترانی مرکب وی ده متصلی او ده منفصلی نه لکه دا قول ځمونږ چه په هر وقت دا اوقاتو کښې یوشی انسان وی نو هغه به حیوان وی او هر حیوان یا به سپین وی یا به توروی نو نتیجه ترینه دا را اووتله چه کل ما کان هذا انساناً په هر وقت ده اوقاتو کښې چه دا شئ انسان وی نو دے یا به سپین وی یا به تور وی او پدی قیاس کښې هم اشکال اربعه دی که حد اوسط محمول ؤ په جزا د شرطیه کښې او موضوع ؤ په منفصله کښې نو دا شکل اَوّل شه لکه مثال مذکوره شه په متن کښې او که حد اوسط محمول ؤ په جزا ده شرطیه کښې او محمول ؤ په منفصله کښې نو دا شکل ثانی شه


Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


لکه دا قول ځمونګه شه کل ماکان هذا انسانٌ فهو حیوان و کل ناطق فهو اما حیوان او جسمٌ نو نتیجه دا را اووتله کل ماکان هذا انسان و کل ناطق فهو اما حیوان او جسم که حد اوسط موضوع ؤ په جزاء د شرطیه کښ او موضوع وه په منفصله کښ نو دا شکل ثالث شه لکه کل ماکان هذا انساناً فهو حیوان و کل انسان فهو ابیض او اسود نو نتیجه دا را اووتله کل ماکان هذا انسان و کل ماکان هذا انساناً و کل ناطق فهو اما ابیض او اسود.

قوله واما القیاس الاستثنائی فالشرطیة الموضوعة فیه هر چه دے قیاس استثنائی نو شرطیه موضوعه پدی قیاس استثنائی کښ اوس قیاس استثنائی تا مخکښ پیجندلے ؤ چه نتیجه او نقیض ده نتیجی بهیئة اجتماعی پکښ مذکور وی او وجهٔ تسمیه پکښ هم تا پیجندلی وه دیته استثنائی ځکه وائی چه دے مشتمل دے په حرف استثناء باندی چه لکن دے په نیز ده دوی باندی او شروط ده قیاس استثنائی پدیکښ دری دی یو دادے چه شرطیه به پکی موجبه وی او دویم دا چه دغه شرطیه به لزومیه وی کچرته متصله وه او عنادیه به وی که منفصله وه او دریم شرط دادے چه یو ده جزء ئین نه په نتیجه کښ لازم به وی ان کانت متصلة فاستثناء المقدم ینتج عین التالی کچرته شرطیه

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



متصله وه نو استثناء ده مقدم نتیجه به ورکی عین تالی ځکه چه دلته مقدم خاص دے او تالی عام دے او وجود ده خاص مستلزم دے وجود ده عام لره کقولنا ان کان هذا انسانا فهو حیوان لکنه انسان فیکون حیوان لکه دا قول ځمونګه شو یو شئے انسان نو دیبه حیوان وی لکن دغه شئ انسان دے نو شو حیوان د استثناء نقیض لتالی ینتج نقیض المقدم که استثناء نقیض ده تالی نه ؤ نو نتیجه به نقیض ده مقدم وی ځکه چه رفع ده عام مستلزم ده رفع دَ خاص لره کقولنا ان کان هذا انسان فهو حیوان لکنه لیس بحیوان فلا یکون انسانا لکه دا قول ځمونګه شه کچری وی دغه شئ انسان نو دیبه حیوان وی لکن ندے دے حیوان نو شو انسان دلیل مخکښ تیر شوے چه ده رفع ده عام مستلزم ده رفع د خاص لره . دا دوه نتیجی صحیح شوی او دوه نتیجی پکی فاسد دی کله چه استثناء وشی ده عین تالی لکه دا قول ځمونګه شو ان کانت هذا انسان فهو حیوان لکنه حیوان نو نتیجه دا نه لازمیګی چه فیکون انسان ځکه چه وجود ده عام مستلزم دندے وجود دَ خاص لره ځکه چه عام په ضمن د بل فرد کښ وی لکه حیوان دِ په ضمن ده حمار کښ وی که استثناء ده نقیض ده مقدم وُشو نو نتیجه به نقیض د تالی را اوزی لکه دا قول ځمونګه شه ان کان

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



هـذا انساناً فهو حيوان لكنّه ليس بانسان نـو نتيجه داسي نه ؤزي چه فـلا يـكـون حيـواناً دليـل مـخكښ تير شويدي چه دفعه ده خاص مستلزم نده دفعه ده عام لره دا دوه نتيجي صحيح دي او دوه فاسد پـه هـغـه ځائي کښ دي چه مقدم خاص وي او تالي عام وي او كه دواړه مسـاوي وي نـو هـلتـه څـلـور قسمه نتيجه صحيح را ؤزي لـكـه دا قول ځمونگه شه ان كـان هـذا انسان فهو ناطق لكنه انسان فهو ناطق كـه داشي انسان وي نو دے به ناطق وي لكن دے انسان دے نـو شـو نـاطـق دا استثـنـاء ده عين مقدم شه كه استثنا ده عين تـالـي وشئ نو نتيجه به عين مقدم لـكه دا قول ځمونگه شو ان كـان هذا انسان فهو ناطق لكنّه ناطق فهو انسان كه داشي انسان وي نـو دے بـه نـاطـق وي لكن دے ناطق دے نو شو دے انسان دا دوه قسـمـه نتيجه شوه كه استثناء ده نقيض ده مقدم اوشي نو نتيجه بـه نـقيـض ده تالي وي لكه دا قول ځمونگه شه ان كان هذا انسان فهـو نـاطق لكنّه ليس بانسان فهو ليس بناطق كه داشي انسان وي نو دے بـه نـاطـق لـكن دغه ندے انسان نو نشه ناطق كه استثناء ده نـقيـض ده تـالي او شي نو نتيجه به نقيض ده مقدم را ؤزي لكه دا قول ځمونگه شو ان كان هذا انساناً فهو ناطق لكنه ليس بناطق فهو ليـس باانسان كـچـرتـه وي دا شـئ انسـان نو دے به ناطق وي لكن

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



ندے دے ناطق نو نشه دے انسان لکن منطقیان بحث کوی ده کلیاتو نه او دا قیاس چه ده مساوات په شکل کښ دے نو دا ماده خاصه ده نو ځکه ماتن دا رانه وړه وان کانت منفصلة حقیقیّة کچرته دا شرطیه منفصله حقیقیه وه او ده منفصلی حقیقیه تعریف مخکښ تیر شوے دے چه جمعه ده دواړو جزئین هم منعه وی او خلوه هم منعه وی فاستثنا احد الجزئین ینتج نقیض الاخر که استثناء ده یو ده جزئین شی ؤ نو نتیجه به نقیض ده آخر وی ولی که عین اخر شی نو اجتماع ده جزئین به راشی لکه دا قول څمونګه شه چه العدد اما زوج او فرد لکنه زوج فهو لیس بفرد د استثناء نقیض احدهما ینتج عین الاخر استثناء نقیض ده یو ده جزئین نتیجه به عین اخری ولی که نقیض ده آخر شی نو لازم به شی ارتفاع ده نقیضین او اجتماع ده نقیضین او ارتفاع ده نقیضین دواړه منعه دی. او دلیل ده دی مخکښ تیر شویدے په منفصلے حقیقی کښ چه جزء ده دی اغستے شی ده نقیض سره یا ده مساوی ده نقیض سره تأمل الخ وعلی هذا مانعة الجمع په منفصلی حقیقی باندے قیاس دے مانعة الجمع لکه دا مثال شه اما ان یکون هذا شئ حجراً او شجراً پدی کښ استثناء یو ده جزئین نه وشی نو نتیجه به نقیض ده آخر وی ولے که عین آخر

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



شي نو اجتماع ده جزئين به راشي او اجتماع ده جزئين منعه ده په مانعة الجمع کښ اوکه استثناء ده نقيض يو ده جزئين نه وشي نو نتيجه به نقيض ده آخر راتلے شي ځکه چه ارتفاع ده جزئين په مانعة الجمع کښ صحيح ده او دليل مخکښ تير شويدے په جزء ده دی اغستے شي د هغه شي سره چه هغه اخص وی ده ده نقيض نه لکه شجر اخص دے ده نقيض ده حجر نه چه لا حجر دے ځکه چه لا حجر شجر لره هم ورغلے دے او انسان لره هم ورغلے دے.

ومانعة الخلو او قياس کوليشی په منفصلی حقيقيه باندی مانعة الخلو لکه دا قول زمونګه شه اما ان يکون زيد في البحر اولا يغرق. پدی کښ که استثناء يو ده جزئين اوشي نو نتيجه به عين آخر اووتے شي ځکه چه اجتماع ده جزئين پديکښ محال نه ده او که استثناء ده نقيض يو د جزئين اوشي نو نتيجه به نقيض ده آخر نه وزی ځکه چه رفع د جزئينو پديکښ محال ده او دليل ئے مخکښ تير شويدے چه هغه جزء ده دی نه اغستے شي هغه شي سره چه هغه اعم دے د نقيض نه لکه زيد اما ان يکون في البحر تا واغستل د اما ان لا يغرق سره واما لا يغرق عام دے ده زيد في البحر نه او ده زيد ان لا في البحر نه. ځکه چه ان لا يغرق في

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



البحر لره هم ورغلے دے او زید لا فی البحر لره هم ورغلے دے.

فصل البرهان د هو قول مؤلف من مقدمات یقبنصیته لانتاج فصل په لغة کښې جدائی ته وائی او په اصطلاح کښې جدائی ده ده اول نه او شروع ده په ثاني کښې او فصل مستعملیګی په مسائلو شخصیو کښې او باب مستعملیګی په مسائلو نوعیو کښې او کتاب مستعملیګی په مسائلو جنسیو کښې او برهان په لغت کښې مطلق دلیل ته وائی او په اصطلاح کښې یو قول دے چه مرکب وی ده مقدمات یقینیونه د پاره ده نتیجی یقیني دا قول په هو قول دے دا شامل دے مرکباتو لره چه هغه اسنادی او غیر اسنادی وی او دا قول چه مؤلف من مقدمات دے نو خارج شو ترینه مرکب منطلقاً که څوك اعتراض اوکی چه په قیاس کښې من اقوال او دلیل او پدیکښې من مقدمات اووئیل جواب ترینه داد ے چه هلته من مقدمات ځکه اونه وئیل ځکه چه په هغے کښې دور راتله ځکه چه مقدمه دیته وائی چه جزء وی له قیاس نه نو قیاس موقوف شه په مقدمی باندی او مقدمه موقوف شوه په قیاس باندی او دریم جواب داد ے چه هلته ده اقوالونه مقدمات ضمناً معلومیده او دلته صراحتاً شه او دریم جواب داد ے چه هلته اقوال عام ده چه صادق وی او که کاذب وی او دلته به صادق وی او

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


كاذب به نه وي او يقين ديته وائي چه اعتقاد جازمه ثابته مطابق دے د واقع سره وي چه جازم اويل پدی سره ترينه خارج شه ظن او وهم ځکه چه ظن علم دے په جانب راجحه باندی زید قائم دی علم زيات راشي ده زيد ليس بقائم نه او وهم علم دی په جانب مرجوحه باندی دی لکه علم ستا راشي په زيد قائم باندی کم او په زيد ليس بقائم باندی زيات راشي دی کم ته وهم وائي چه ثابت اووئيل پدی سره تقليد خارج شو ځکه چه په تقليد کښې علم ثابت نوی ولے که ثابت وے دا به نه زائل کيدو په تشکيك ده مشکك سره چه مطابق اوويل ده واقع سره پدی سره جهل مرکب خارج شو ځکه چه په جهل مرکب کښې جزم او ثبوت دواړه شته لکن مطابق نه دے ده واقع سره او ديته جهل مرکب ولے وائي ځکه چه پدی کښې دوه جهلَ دی يو دادے چه په پخپله نه پو هيگی او په بل پو هه باندی هم نه پو هيگی او دا برهان مثال دے چه العالم حادث لانه متغير وكل متغير حادث فالعالم حادث.

وايقينيات اقسام ستة يقينيان اقسام شپگ دی احد هما اوليات اوليات هغه يقينبات دی چه مجرد تصور ده طرفين اوکی نو نتيجه ترينه يقيني راوزی لکه هذا واحد وكلّ واحد مثل اثنين نو فالواحد مثل اثنين چه د واحد او اثنين تصور اوکی نو نتيجه به

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



دغه مذکور یقینی اُوزی یا لکه والکل اعظم من الجزء هذا کل وکل اعظم من الجزء نوفالکل اعظم من الجزء چه ده کل تصور اوکړی چه مالهٔ الاجزاء او جزء تصور اوکړی چه دے جزء اویل جزء جمع کړی نو کل ترینه جوړیګی نو نتیجه دغه مذکور په یقین سره ترینه راوتل چه کل اعظم دے ده جزء نه۔ پس ایزده کړه دا خبره چه په هر تعریف ده شی کښ ده څلورو عللونه لابدی ده علت فاعلی علت صوری او علت مادی علت عالی علت فاعلی دیته وائی چه موثر وی په اجار ده شی کښ لکه ترکان شو د کټ د پاره او علت صوری دیته وائی چه په دی سره وجود ده شی بالفعل راځی لکه صورت ده کټ شو او علت مادی دیته وائی چه پدی سره وجود ده شی بالقده راځی لکه ده کټ بازوګان خپی او میزرئ شه او علت غائی دیته وائی چه باعث وی په وجود ده شئ باندی او سرے ورته محتاج وی لکه څم لاسته شو په کټ باندی او علت فاعلی پدی کښ مؤلف دے او علت صورت هیئت دے برهان دے چه عبادت دے ده ترکیب ده صغرٰی او کبرٰی نه او علت مادی برهان عبارت دے ده مقدمات د برهان نه او علت غائی نتیجه ده قیاس ده پس دا اولیات په دوه قسم دی یو بدهی جلی دی او بل بدیهی خفی دی او بدهی حلبی دیته وائی چه حسر طاهره لره

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft


پکښې دخل وي حواس ظاهره پنځه دي سترګې، پوزه، غوږونه، ژبه، او لاسونه يعنې قوة باصره، او قوة شامه، قوة سامعه، قوت لامسه، قوت ذائقه او بديهي حسر ديته وائي چه حسر ظاهره لره پکښې دخله نه وي لکه يوه شوه ده اسد نه او حواس باطنه پنځه دي يو حص مشترکه دے يو خيال دے او دريم وهم دے او څلورم قوّت حافظه دے او پنځم قوت متصرفه دے.

ومشاهدان نحو الشمس مشرقة والنار محرقة او مشاهدان هغه يقينيات دي چه مجرد تصور ده طرفين په اعتبار ده وجود خارجي سره معلوميږي په مشاهدي سره يا معلوميږي په ملامست سره او مثال ده دي دواړو مذکور دي په متن اُوس ده دينه قياس چه جوړيږي نو هغه به داوي لکه الشمس ضياء وكل ما هو ضياء فهو مشرقة نو فالشمس مشرقة او ده ثاني نه قياس دادے هذا نارٌ وكل نارٍ محرفه هذا محرقة اومجربان كقولنا اسقمونيا مسهل للصفراء بعض ده يقينياتونه محربات دي مجربات هغه يقينيات دي چه معلوميږي په تکرار د تجربيو سره لکه مثال مذکوره شه او قياس ترينه دادے هذا ثناؤ كل ثناءٍ مسهل للصفراء نو هذا مسهل للصفراء ترجمه چه د اثناء لري کونکي ده صفراء لره وحدثيات او بعض ده يقينياتونه حدسيات دي او حدسيات هغه يقينيان دي چه پدي

Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



کبڼ انتقال د مبادیونه مطالبوته دفعةً واحدةً لکه ته چه ده اوّل میاشتی تصور اوکئ چه دا وړه ده او کله چه څوارلسم او پنځلسم شی نو دا پوره شی او کله چه آخر میاش راشی چه هغه اتیشتم او یو کم دریشتم دے نو دا پناه شی نو په دی تا میاشته کبڼ تاته دا معلومه شوه چه ده میاشت ته برج مخامخ شی ده نور بروج ته لکه غونتی نو میاش ته وړه وی او کله چه څوارلسم او پنځلسم شی نو ده دغه میاش تهول برج مخامخ شی برج ده نور ته نو سپوګمئ تامه شی او کله چه برج ده میاش نه یاده سپوګمئ نه بدلیګی ده یو بل نه لګه لګه نو سپوګمئ کمیګی ده اتیشتم او ده یو کم دیریشتم پوری نو بروج ده سپوګمئ پناه شی ده برج ده نور ته نو بیا په دواؤ رروزو کبڼ یا یو روز کبڼ نه ښکاریګی دا هغه خبره وه چه مونګه داوئیل چه په حدثیاتو کبڼ به انتقال ده مبادیونه مطالبو ته دفعةً واحدةً رائحی.

کقولنا نورالقمر مستفاد من نورالشمس لکه دغه قول څمونګه شو چه روخانوالے ده سپوګمئ پیداء ده روخانوالی ده نور نه او قیاس ترینه دادے هذا نورالقمر وکل نورالقمر مستفاد من الشمس نو فهذا نورالقمر مستفاد من نورالشمس ومتواترات کقولنا محمد رسول الله صلی علیه وسلم ادعی النبوة واظهر المعجزات

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



علي يده متـواترات هغه يقينيات دي چه عقل حكم كئ په يقين سره او پـه واسـطې ده سـمـعـي سره ده قوم عظيم نـه داسې قوم عظيم چه اتفاق په كذب باندې محال وي دي ډلې كښې اختلاف دے څـوك وائـي چـه پـنـځه دي ځكه چه بناګانې ده اسلام پنځه دي څوك وائي چـه دولـس دي ځـكـه مياشتـے ده كال دولس دي څـوك وائـي چـه پنځوس دي ځكه چه په رؤيت ده مياشتې كښې په غير ده علت ده اسمان نه چه هغه عام دے پنځوستو شاهدانو ته ضرورت دے يعنـے معتبر دي.

څوك وائي چـه څلويښت تنه دي ځكه چه موسىٰ عليه السلام چـه تـلـې وه تـورات اغستـو د پـاره ده خدائـې نـه هغـه باندې څلـويښـت روزې شيـې تـلـې وي غـوره تعـريف هغـه دے چه مـخكښې مونږه كړيدے چه شرط په تواتر كښې دادے چه اول او آخـر اووسـط بـرابـر وي اوّل كـښې هـم دمـره ډلـه وي چـه هغـه ده صـحابو ډله ده چه هغو اتفاق په كذب باندې محال وي. او وسط تـابـعيـن او تبـعـه ده تـابـعيـن دے چـه ده هغو هم اتفاق په كذب باندې محال وي او دريم هغه دے چه ده تبعه ده تابعين نه روسته زمونږه پورې اتفاق په كذب باندې محال وي.

او ده ديـنـه روسته خبر مشهور دے چه په زمانه ده رسول صلى الله

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



علیه وسلم کښې یو سړے ده رسول ﷺ باندی محال وی. او دریم خبره واحد ده چه په خیرالقرون کښې ده یو یو نه حدیث نقل شویوی اګر که روسته جمعه عظیم وی مثال ده متواترات لکه دا قول ذمونګه شه چه محمد رسول الله ﷺ ده الله تعالیٰ رسول دے او دعوه کړیده ده پیغمبری او ظاهر کړیدے دی معجزاتو په لاس خپل باندی او ده معجزی او ده سحر او ده کرامات په منز کښې دا فرق دے چه ظاهر شوی وی ده لاس ده ده باندی او دعوه ده نبوت کړیوی نو هغه معجزه ده په حقه سره لکه شق القمر شو. او که ده عادت نه خلاف شوے وی ده ده په لاس او تابع ده دین سماوی وی نو دیته کرامات ویلیشی لکه بی موسمه میوی شوی ده حضرت مریم په حجره کښې او کـه عادت نه خلاف یوشیٔ صادر شویوی ده ده په لاس باندی او تابع ده دین سماوی نه وی نو هغې ته سحر ویلیشی لکه ده دجّال په باره کښې چه هغه اسمان ته حکم اوکی ده باران نو باران به کیږی او چه زمکی ته حکم اوکړی ده زرغونیدو ده ګیاه نو زمکی به ګیاه زرغونکی.

او ده دی متواتراتو نه دا قیاس راؤستل چه کلام الرسول حق لانه ادعی النبوة بحقٍ و کل ما هذا شانه فکلامه حق نو فکلام رسول الله ﷺ حق او دویم قیاس دادے چه مدعیٰ ده رسول ﷺ په باره ده

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



توحيد کښې حقه ده لانه اظهر المعجزات على يده وكل ما هو شانه او هر هغه شوك چه شان ئے داوی نو دعویٰ ده توحید د هغه حقه وی نو د رسول ﷺ دعوه ده توحید حقه شوه وقضايا قياساتها معها او بعض ده يقينياتونه قضايا دی چه قياسات ده هغے سره ده هغے نه وی.

كقولنا الاربعة زوج بسبب وسطٍ حاضرٍ في الذهن وهو الانقسام بمتساويين لكه دا قول څمونږه چه اربعه زوج دی په سبب ده وسط سره چه هغه حاضر دے په ذهن کښې چه هغه انقسام دے متساوينو ته او مراد په وسط سره حد اوسط دے قیاس ترینه راوتل چه الاربعه زوج لانه منقسم الى المتساويين وكل ماهو منقسم بمتساويين فهو زوج فالاربعة زوج دا قیاس ده قضیی نه راووتو چه الاربعة زوج دے. او دویم مثال دادے چه الحمد لله تهول صفتونه ده كمال الله تعالیٰ لره دی لانه ذات مستجمع لجميع الصفات الكمال وكل ماهو شانه فالحمد له نو فالحمد لله او دریم مثال دادے الله ربی لانه مرب لكل شئ وكل ما هو شانه فهو ربٌ نو فالله د ربٌ والجدل وهو قول مؤلف من مقدمات مشهورة او جدل په لغت کښې قوت ته وائی او په اصطلاح کښې یو قول دے چه مرکب دی له مقدمات مشهورونه او شهرت راځی یاده دی وجه نه چه

Scanned with CamScanner

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



مشتمل وی په مصلحت غامزه باندی یعنے پټ باندی لکه العدل حسن والظلم قبیح نو ده دینه قیاس دا جوړیګی العدل حسن لانه مشتملة علی اخلاق حسنة وکل ما هو شانه فهو حسن فالعدل حسن والظلم قبیح لانه مشتملة علی اخلاق ردّی وکل ما هو شانه هذا فهو قبیح فالظلم قبیح یا دا شهرت ده دی وجه نه دے چه مشتمل به وی په نرم والی ده زړه باندی مَرَاعات الضعیفة محمودة چه لحاظ ده کمزورو خلقو ښکاره دی قیاس ترینه دا جوړ شو چه مراعات الضعیفة محمودة لانها مشتملة علی رقة القلب وکلّما هذا شانه فهو محمودة فمراعات الضعیفة محمودة یا به شهرت ده دی وجه نه به وی چه دا قضیه به مشتمل وی په ترك ده عیب باندی لکه کشف العورة مذمومة لانها مشتملة علی ترك الحیاء وکل ما هذا شانه فهی مذمومة نو فکشف العورة مذمومة برینډ والے ده عورت د ابدی دی.

والخطابة هو مؤلف من مقدمات مقبوله من شخص معتقدٍ بهٖ او مظنونةٍ او خطابت په لغت کښ ګفته ګوته وائی او په اصطلاح کښ یو قول دے چه مرکب دی ده مقدمات مقبولونه چه هغه مقبولوالے ده شخص سره وی او هغه شخص باندی اعتقاد شی وی دغه شخص پیغمبر وی، یاولی وی مثال ده پیغمبر محمد ﷺ پیغمبر دے ځکه چه صادریګی په لاس ده ده باندی معجزه او هر هغه څوك چه شان ئے دا وی نو هغه پیغمبر وی نو محمد ﷺ

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



پیغمبر شو، حال قول ده حضرت مریم شو چه حضرت مریم ولیه ده ځکه چه صادر شوید ے په لاس ده دی باندی کرامات او هر هغه خوك چه شان ئے دا وی هغه ولِیَهٔ وی نو حضرت مریم ولیه شوه او مثال ده مقدمات مظنونو لکه هذا سارق لانه یظوف بالیل وکلما هذا شانع فهو سارق فهذا سارق یا بل مثال هذا لحائط یَنُشِرُ مِنهُ الطرا وکلما ینتشر منه الطراب ینهدم فهدا لحائط ینهدم. دغه دیوال دوړیگی ده دنه خاوری: هر هغه دیوال چه خاوره ده هغے نه دوړیگی نو هغه اَرُغړی نود ے ارغړی. او غرض ده خطاب نه ترغیب د ے. خلقو ته دا دری واړه چه برهان د ے او جدل د ے او خطابت د ے دا ثابت د ے په قرآن شریف سره چه هغه دا قول ده الله تعالیٰ د ے. ادعوا الی سبیل ربك بالحکمت والموعظه وجادلهم باللتی هی احسن. ده حکمت نه برهان مراد د ے او ده مواعظو حسنونه خطابت مراد د ے او جادلهم باللتی هی احسن نه جدل مراد د ے که خوك دا اعتراض اوکړی چه خطابت په قرآن کښ مخکښ او دا جدل روستے د ے نو پکار ماتن له داده چه خطابت مقدم کړیوی په جدل باندی لکن جوابونه ترینه دوه دی پدی کښ منطیقیانو اختلاف د ے خوك وائی چه جدل قوی د ے ځکه چه دا مرکب د ے له مقدماتو مشهورونه او خطابت مرکب د ے له مقدمات مقبولونه او یا مظنون دواړونه او ظن کمزور ے د ے په نسبت سره

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



شهرت ته او دويم وجه داده چه دا سهوه د قلم د ناسخ نه راغلى ده خطابت روسته كړيدے د جدل نه والشعر وهو قياس مؤلف من مقدمات يَنْبَسِطُ منهما النفس او ينقبض شعر په لغت كښ علم ته وائى او په اصطلاح كښ يو قياس دے چه مركب وى له مقدماتونه چه خوشحاليكى ده هغے نه نفس او يا قبض كيكى ده هغے نه نفس مثال ده اوّل هذا خمر و كل خمر يا قوتيّة سيالة اِنْبَسَطَةُ النفس او رغبت فى شربها دا شے شراب دے او هر شراب يا قوتى دے يعنے عزتمند دے سيّالة زَرَ تيريدونكے دے او خوشحاليكى نفس او رغبت راځى ده نفس له اَسْكلو ده دينه او هر هغه شئے چه شان ئے دادى هغه شراب وى نو دا شراب شو .

او مثال ده ثانى هذا عسل و كل عسل مرٌ موهوعٌ اِنْقَبِضِةِ النفس او تنفرت من شربه و كلما هذا شانه فهو مر موهوع او هر هغه شے چه حال ئے داوى نو هغه به تار خه وى مو هوعٌ ځكه مرئ كښ نه تيريكى او قبض كيكى به ده دينه نفس نو نتيجه دا راوستل هذامر موهوعٌ تو آخره پورى عرض ده شعر قبليده ده نفس انفعال ده نفس د پاره ده ترغيب او ده ترهيب او زياتى ګئ دغه شعر په ترغيب او په ترهيب سره چه شى دى په وزن باندى داسى وزن چه باريك وى او شعر ګوئى راځى په صَوْت سره داسى صوت چه هغه ډير خوګ وى خصوصاً په هغه وقت كښ چه

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



صادر شی ده طرب نه او وی پیوست ده الاتو ده لهو او ده لعب سره او شرط په شعر کښې دادے چه وی دی دا صادر په قصد او په ایرادی سره او ده دی وجنه جائز نه دے اطلاق ده شاعر په الله پاك باندی او په رسول ﷺ باندی او که څوك دا وائی چه الله نه صادر شویدے دا قول چه لن تنا لوالبر حتی تنفقون : هر چه داری حرف لکن در راهی هو : او ده نبی علیه السلام نه لکه ان النبی لاکذب : انا ابن عبدالمطلب .

نو جواب ترینه دادے چه دا صدور ده ده نه په طریقی ده اتفاق سره دے نه په طریقی ده قصد او ایرادی سره . او دویم جواب دادے چه هغه شعر منعه دے چه هغه مشتمل وی په صفاتو ذمیمو ده الله تعالیٰ او ده رسول ﷺ باندی او هغه شعر منعه نه دے چه هغه مشتمل وی په رشتیاؤ باندی او په صفات ده الله تعالیٰ او ده رسول الله ﷺ باندی او ده دی وجے نه حضرت علیؓ او حضرت حسانؓ په اخپل وقت کښې ډیر اوچت شاعران وو او په کافرو باندی دا دواړه ډیر بدلګیده . اوس پدی تقسیم ده متن کښې ده برهان روسته پدی کښې اعتراض دے ځکه چه لازمیګی تداخل ده اقسامو په یو بل کښې ځکه چه مقدمات ده برهان سره دَ کیدلو ده دینه یقینی دے او کله کیګی دا مقدمی مشهوری او مقدمات ده جدل سره ده دینه چه دا مشهور دی او کله کیګی

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



يقينيه او مقدمات ده خطابت سره ده كيدلو ده دينه چه دا مظنون دي او كله كيگي دا مقدمي يقيني او مقدمات ده شعر سره ده دينه مأثر دے په نفس كښ او كله مظنون او كله كيگي مقبول جواب ترينه دادے چه دا تقسم اعتباري دے او جائز دے پديكښ تداخل او عدم جواز په هغه كښ دے چه هغه تقسيم حقيقي وي.

المغالطة وهي قياس مؤلف من مقدمات كاذبة شبيهة بالحق او مغالطه په لغت كښ ده غلطوالي ده خصم ته وائي او په اصطلاح كښ يو قياس دے چه مركب وي له مقدماتو كاذبونه چه هغه مشابه وي ده حق سره او بالمشهور به مشابه وي ده مشهورو سره مثال ده اوّل چه فرس نقش وكيئ په ديوال باندي او ديته اووائي هذا فرس وكل فرس صهال هذا صهال دا غلطيا راغله ده تكرر ده اوسط نه ځكه چه اوسط په صغرٰي كښ نقش دے او په كبرٰي كښ حقيقة دے او مثال ده ثاني چه مشهور دے هغه دادے هذا انسان وكل انسان حيوان وكل حيوان جنس نوفهذ الانسان جنس داغلطيا راغلے ده ده مأدي ده قياس نه نو ده دي وجه نه نتيجه غلطه را اووتله چه د انسان د پاره جنسيت ثابت شو او مقدمات وهمية كاذبة يا دا مغالطه به مركب وي له مقدماتو وهميو كاذبونه پس ايزده كړه دا خبره چه وهم علم دے په جانب مرجوحه باندي لكه په زيد قائم دي علم كم راشي او په زيد ليس

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



بقائم دی علم زیات راشی او تخیل دیته وائی چه نسبت ده قضیی حاصل شی په ذهن کښ او بل نسبت لره متعه کئ او شك دیته وائی چه علم دی په تساوی ده نسبتین باندی وی لکه مثال دا شو هـذالغذاء فوق العالم لاینتهی دا فضاء لپاسه ده عالم نه ده چه انتهاء ورلـره نشته او هر هغه شے چه د شان وی نو انتهاء ورلره نه وی نو دیلره چه فضاء رانه غله انتهاءً دا مقدمه کاذبه ده ځکه چه عالم ورغلے دے ټولو اشیاؤ لره ما سواء ده الله تعالیٰ نه او غیر متناهی خو باطل دے په برهان سلمی سره او برهان سلمی دیته وائی چه دوه خطه اوباسی ده یو نقطی یو په یو طرف زی او بل په بل طرف زی په مینز کښ دا میدان به غیر متناهی شی او حال دادے چه دا میدان راګیر دے په مینز ده دغه دواو خطین کښ نو جمعه راغله په مینز ده متناهی او ده غیر متناهی کښ او دا باطل ده . والعمدة هی البرهان لاغیر او عمده په لغت کښ مضبوط ته وائی او په اصطلاح کښ دلیل مشبته دے په اعتبار ده یقین سره لاغیر نه غیر ده برهان نه چه هغه جدل دے ځکه هغه مرکب دے د مقدماتو مشهورونه او برهان مرکب دے ده مقدمات یقینیو نه آو خطابت نه برهان هم غوره دے ځکه چه په تعریف ده هغے کښ مقدمه مظنونه راغلی دی او برهان کښ مقدمه مظنونه نشته او ده شعر نه برهان هم غوره دے ځکه چه په تعریف ده هغے کښے

Scanned with CamScanner
Scanned with CamScanner
Maktaba Tul Ishaat.com

Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft
Compressed with PDF Compressor by DLM Infosoft



مقدمه راغلے ده چه قبض کیگی ده هغے نه نفس او په برهان کښ داسی نشته او برهان ده مغالطی نه غوره دے ځکه چه په تعریف ده مغالطی کښ مقدماتِ واهمه او کاذبه راغلیدی او بله وجه ده عمدیت ده برهان داده چه مبتداء خبر معرفتین وی او خبر معرّف بالام وی نو دا حصر فائده کئ په مسند الیه کښ او دویم وجه داده چه مبتداء او معرفتین ؤی او ضمیر فصل په مینز کښ راشی نو حصر ده مسند فائده کئ په مسند الیه کښ او دریم وجه داده چه مبتداء خبر معرفتین وی فقط نو حصر ده مسند فائده کئ په مسند الیه کښ ولکن هذآخر الرسالة متلبساً بحمد من له البداية واليه النهاية مناسب دی چه شی دی دا برهان آخر ده رسالی متلبس ده په حمد ده هغه ذات سره چه ده هغه نه شروع د مخلوق ده او هغه ته انتهاء ده مخلوق ده او دا جمله انشائیه ده او معنے ده خبریه باندی ده ځکه چه په خبرئ کښ معنے ده صدق دے نه په انشائیئ کښ نو خبریه مناسب وه ده دی مقام سره چه هغه عمدیت ده برهان دے او په صُوُرَتُ د انشاء کښ پیش کړیدی ځکه چه مصنف یقین پوره نشته پدی برهان باندی. فقط تمّت.

من لسان شيخ النحو حضرت بابا جی فضل احد مقام شالفين سوات

**ختم شد**